٦٨٩

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۳۲مه ګڼه، د ۱۳۹٦ لمریز کال د عقرب ۲۷مه، د ۱۴۳۹ هـ ق د صفر ۲۹مه، د ۲۰۱۷م د نومبر ۱۸مه نېټه

آیا اسلام معتدل و افراطی داریم؟

له فساد سره جګړه د ټولو دنده ده!

بحران امنیت

و سیاست‌های چالش‌زا در افغانستان

وطن پالنه او قوم پالنه!

هو زمونږ دعوت (اسلامي) دی، د (اسلامي) لفظ په ټوله معنی سره، نور نو چې کوم ډول پوهه او فهم ترې اخلې اخیستلی یې شې په دې شرط چې د الله پاک د کتاب، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو، او د صالحو سلفو د سیرت په رڼا کې وي.

د الله کتاب خو د اسلام اساس او بنسټ دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت خو د الله د کتاب بیانوونکی او شرح کوونکی دی، هر چې دصالحو سلفو سیرت دی نو هغوی – رضوان الله علیهم – خو د اسلام د تعالیمو او لارښوونو زده کوونکي او اخیستونکي وو، دهغو منفذین او پلي کوونکي وو، هغوی د اسلام د تعلیماتو او لارښوونو عملي بېلګې او نمونې او دهغو محسوس او ملموس تصویر او انځور وو.

زمونږ دریځ او موقف د نورو دعوتونو په اړه

د مختلفو دعوتونو په هکله کوم چې په دې عصر کې د طغیان په حد کې دي او د خلکو زړونه یې سره ویشلي او فکرونه یې ګډوډ کړي دي زمونږ دریځ دادی چې هغه د خپل دعوت په تله تلو، که ورسره موافق و نو هرکلی ورته وایو او که ورسره مخالف و نو مونږ ترې بېزاره یو، او مونږ خو په دې عقیده چې زمونږ دعوت خو عام او محیط دعوت دی، هیڅ چېرې د هیڅ یوه دعوت یوه روغه او صالحه برخه نشته مګر داچې زمونږ دعوت ورته شامل او پکې داخله ده.

وطن پالنه

خلک په فتنه کې لوېدلي دي؛ د وطن پرستۍ د دعوت په فتنه کې او د قوم پرستۍ د دعوت په فتنه کې. په ځانګړې توګه د ختیځ ولسونه، کله چې هغوی فکر کوي چې غرب یې بې دربغه توهین او سپکاوی کړی دی، د دوی عزت، کرامت او استقلال یې تر پښو لاندې کړی دی، او د دوی مالونه یې لوټلي دي او وینې یې ځببښلي دي!

د ختیځ ولسونه د لویدیځ د ښکیلاک له ځغ څخه کړېږي چې په زور او زبرځواکۍ سره یې د دوی پر اوږو ایښی دی، اوس هغوی په خپل ټول ځواک او قوت، اوجهاد او مبارزې سره چې په وس کې یې لري، هڅه کوي له هغه څخه ځان خلاص کړي. نو ځکه د وطن او ملت په نامه د سیاسي رهبرانو خولې خلاصې شوې، درځن درځن جریدې راووتې، لیکوالانو لیکنې وکړې او خطیبانو ویناوې وکړې.

په هر حال داهر څه نېک او ښه کار دی خو بده او بې خونده داده چې ته کله د ختیځ خلک او ولسونه په داسې حال کې چې ټول مسلمانان دي پوه کول غواړې چې دغه څه چې د غربیانو په خولو او د اروپایانو په لیکنو کې دي له دې نه پاک، لوړ، بشپړ، او کره افکار په اسلام کې پراته دي نو دوی یې درسره نه منې او انکار ترې کوي، د اروپایانو ړانده تقلید ته لالهانده ور وګرځي او درته د خپل ګومان په اساس لګیا شي چې اسلام په یو لوري کې دی او دغه افکار په بل لوري کې قرار لري، او ځنې خو لا تردې هاخوا اوړي او وایي چې دغه افکار له اسلام سره تړل او هغه اسلامي ګڼل د ولس یووالی ویشي او اړیکې یې کمزورې کوي.

دغه دواړه غلط او خطا ګومانونه د ختیځ ولسونو ته له هر نظر نه ستر ګواښ او خطر دی. په همدې خاطر مې وغوښتل چې دلته د وطنیت د فکر په اړه د اخوان المسلمین او دهغوی د دعوت دریځ وړاندې کړم هغه دریځ چې د خپلو ځانو له پاره یې غوره کړی دی او غواړي او هڅه کوی څو خلک یې ورسره یو ځای خوښ او غوره کړي.

د مینې او محبت وطنپالنه

که د وطنیت د بلونکو او پلویانو مقصد له وطنیت څخه له وطن سره مینه، محبت او هغه ته شوق او لیوالتیا وي او هغه خدمت وي، نو دا خو که له یوې خوا د انسان په ختې او طبیعت کې اغېزل شوی دی، له بلې خوا د اسلام له مامور به هدایاتو څخه دی.

دغه بلال چې خپل ټول څه یې د خپل دین او خپلې عقیدې په لار کې وښندل او قربان کړل، دادی دهجرت په وطن مدینه کې د مکې په مینه او دهغې په یاد کې له خوږښت او نرمښت څخه ډک اشعار زمزمه کوي:

آه، زمانصیبه! داسې وخت به هم راشي چې یوه شپه د مکې په یوه دره کې تېره کړم او شا وخوا مې منجان او سرګړي واښه ولاړ وي!

کومه ورځ به داسې راشي چې د مجنې سیمې او بو ته ور کوز شم او د شامې او طفیل غرونه ته ګورم!

یوه بل مهاجر به ویل:

آه زما نصیبه! داسې وخت به هم کله راشي چې یوه شپه د خزامې دره کې تېره کړم او شا وخوا مې چې خاپوړې کړي او مور او پلار روزلی یم تېره کړم!

او یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم له اصیل څخه واوربدل چې مکه یې ستایله، نو په زړه یې راوورېده، له سترګو یې د مینې او ښکې وځځېدې او ورته ویې ویل: اصیله! پرېږده چې زړونه مو ارام او تکور شي. (امام حسن البناء)

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

کابل: تایمنی، چهارراهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر

کابل: کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سرک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون:۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

ننگرهار: جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون:۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی ښار، د هرات سرک، د سرې جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۵۲۶۳۷۷۳ – ۰۴۰۲۳۷۰۱۲

بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوگر: محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵۴۳۸۷۶

لوگر: مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰۴۴۹۸۸۱

پکتیا: دگردیزښار، مرکزی چوک ، دنی نمایندگی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست : افغان ټاور شاته، خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: آموزشگاه علمی رسالت- واقع چهار راهی تیل فروشی- تیل فروشی سابقه. ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان: فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸

زابل: قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: شهر زرنج، کوچه‌ی افغانستان بانک، جنب ریاست زراعت، دفتر جمعیت اصلاح: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

سرمقاله

بحران امنیت و سیاست‌های چالش‌زا در افغانستان

بعد از شانزده سال تلاش و پیکار نظامی-سیاسی و مصرف ملیاردها دالر و حضور نظامی ده‌ها کشور خارجی در این سرزمین، نه تنها افغانستان به امنیت متوقعه دست نیافت و وضعیت اسفبار جنگی و نا امنی‌های روانی و فزیکی درین کشور کاهش نیافت؛ بل چندین برابر بر نگرانی این ملت افزوده شد و هزاران پیر و جوان و زن و مرد این سرزمین به بهانه‌های مختلف به کام مرگ می روند و هزاران تن دیگر هنوز هم در پی جنگ‌ها و حوادث ناگوار ناشی از آن معلول و معیوب گردیده و جمعیت بزرگی نیز یا مجبور به ترک سرزمین به خارج از کشور شده و یاهم در داخل کشور به آواره‌گان بی سرپناه داخلی و مهاجران جنگ زده مبدل گشته اند.

امنیت در افغانستان، هر روز بیشتر از پیش خراب تر شده و از میزان امیدواری‌های مردم نسبت به آینده و خوش بینی‌های شان نسبت به رفاه و صلح و باهمی کاسته می‌شود. ضمانتی که بتواند این عنقای گم شده (صلح و امنیت) را به این کشور بر بگرداند، از دید مردم ناپیدا شده و جز الم و درد و یأس و نا امیدی چیزی را این مردم بیچاره در افق دید شان نمی بینند.

نظر به شواهد و تحلیل‌ها، عوامل متعددی در وخیم‌تر شدن اوضاع امنیتی درین کشور نقش دارند که:

اقتصاد ضعیف، نبود زمینه کار و اشتغال، تبعیض و نابرابری‌های محسوس و ملموس در تقسیم و توزیع قدرت و کرسی، نبود روحیه‌ی همدیگر پذیری و وحدت در میان سران سیاسی، عدم تنفیذ قانون و فساد گسترده‌ی موجود در دم و دست‌گاه حکومتی، عدم توجه به خواسته‌ها و آرمان‌های بلند اسلامی-انسانی مردم، نبود اراده سیاسی برای حل معضل موجود در کشور در میان سران حکومت، دخالت کشورهای مغرض منطقه و قدرت‌های بزرگ و ذینفع، بی تفاوتی و عدم درایت سیاسی در میان مردم را از برجسته ترین آن‌ها می‌توان برشمرد.

ضمن موارد فوق، اشتباهات سیاسی رهبران و سیاست‌گذاران در افغانستان، در طول تاریخ این کشور بیشتر از هر عامل دیگری بر پیکره‌ی سیاست و نظام داری درین سرزمین صدمه زده است. چنانی که تاریخ پر فراز و فرود این سرزمین گواه آن است، در کنار همه برنامه‌های تخریبی و مغرضانه و دسایس شوم و طوطئه‌های ناجوان‌مردانه‌ای که از سوی کشورهای منطقه و همسایه‌گان بدخواه علیه این کشور صورت گرفته، بیش از پنجاه درصد سیاست ورزان خود پسند و پیش پا بین ما نیز، به‌گونه‌ی خواسته و ناخواسته، نقش تخریبی ایفا کرده اند و برای ارضای خواهشات و جلب منفعت‌های زود گذر پیشاپیش لشکر توطئه، علیه سرزمین شان رزمیده اند.

و اکنون هم با اندک تعمقی می‌توان دریافت، که جدا از نیت سوء بدخواهان، اثر مخرب اشتباهات و تضاد و تقابل سیاست‌گران این کشور، در به چالش کشیدن امنیت و ثبات درین سرزمین بیشتر محسوس است؛ زیرا معیار مبارزات سیاسی درین کشور، پیش از اینکه منافع جمعی و ثبات کلی کشور باشد، منفعت‌های شخصی و عقده‌های قومی، سمتی، مذهبی و حزبی است.

هر انسان عاقلی با اندک تأمل درمیابد که اطراف ذینفع در بحران کنونی کشور آن‌های اند، که تسلیحات عرضه می کنند، مدیریت جنگ را به دوش دارند، پروسه‌های ارزش‌مدار صلح را به چالش می کشند، کشور ما را بازار مصارف تولیدات خویش ساخته اند و همه هست و بود مادی و معنوی ما را به بهانه‌های گوناگون به تاراج می‌برند. ولی از جانب دیگر، قربانیان اصلی این جنگ‌ها در هر دو سوی جبهه مسلمانان افغان اند.

حالا همه باالاتفاق می دانیم که همه تلاش‌های سیاسی-نظامی به کار بسته شد؛ ولی، جنگ و نا امنی فروکش نکرد، مصرف ملیاردها دالر و سرازیر شدن هزاران نظامی تا به دندان مسلح خارجی هم کار گر نیفتاد و مشوره‌های نظامی و سیاسی تیوریسن‌های غربی هم دردی را درمان نکرد؛ زیرا واقعیت امر این است، که «هم گندم تر است و هم آسیاب کند» نه هیچ یک از مدعیان امنیت و ثبات به آنچه گفتند صادق بودند و نه‌هم علم داران آزادی و دفع تجاوز و اشغال؛ آنچه درین میان خیلی ضرورت مبرم و جدی به حساب می آید، رجوع به اردوگاه مردمی است و کار برای صلح و همدیگر پذیری و تفاهم.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضای هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
عزیزاحمد حنیف
وحید الله مصلح
عبدالوهاب هائد

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

خواله

عبدالفتاح جواد

له فساد سره جګړه
د ټولو دنده ده!

د ترکیې له ولسمشر نه وپوښتل شول، چې تاسې سره کوم داسې خارق العاده هنر او کمال ؤ، چې وموکړای شول په کم وخت کې تر غوړونو په قرضو او پورونو کې ډوب هېواد د نړۍ ۱۷ اقتصادي هیواد کړئ، نو هغه ورته ویلي ؤ، چې مونږ فساد کم کړ.

دا حقیقت دی چې فساد او پرمختګ دوه متضاد او مخالف توري دي، که فساد او اختلاس وي، نو نه به ترقي وي او نه خوشحالي، د دې هرڅه مخه به نیول شوې وي او د حکومت لپاره به هم ستره بدنامي او ننګونه وي، پر نظام او سیستم باندې به هم د ولس بې باوري ورځ تر بلې زیاتېږي.

ډیری خلک چې د حکومت نه فاصله اخلي او د دې وړ یې نه بولي چې ننګه یې وشي، یا هم خپلې شخړې او ناندرۍ د حکومت مخالفو وسلوالو ته وړي، هغوی شکایت لري چې په دولت کې یوه امضاء هم بې رشوته نه کیږي. داسې ډیر شواهد شته چې په حکومتي محاکمو کې دوسیې تر کلونو کلونو پرتې وي او که پرې فیصله هم کېږي، نو د هغه چا په حق کې وي، چې مال او پیسه ولري، او د قاضیانو او څارنوالانو خوله خوړه کړي.

د متوسط ژوند څښتن وي، عادي ژوند به لري، خو چې کومځای رسمي دنده پیدا کړي او چارواکی شي، نو په ډیر لږ وخت کې یې د کورونو او بنګلو جوړېدل پیل شي، زمکې اخلي او بلندمنزل جوړوي.

څوک چې تعمیراتي شرکتونه لري، هغوی ته معلومېږي چې کله له دولت نه پروژه اخلي، نو په څومره ستونزو سره یې اخیستلی شي او چې تطبیقوي یې نو بیا څومره فرمایشونه او غوښتنې ترې نه کېږي، څوک ترې په یو نوم او څوک ترې په بل نوم خپل حق (!) اخلي، نو په نتیجه کې یې زور وطن او ولس ته ووزي او یو بې کیفیته کار وشي.

فساد په یوه طبقه، قشر او قوم پورې خاص ندی، بلکې هغه مرض دی چې اوس یې دولت او له دولت سره تړلي موسسات او ادارې او ان نا دولتي موسسات نیولي دي، چې د حج په پروسه کې د بډو او اختلاس شکایتونه وي، نو کوم ځای به خوندي وي.

په لومړیو کې خو هڅه وشوه چې د جهاد او مجاهدینو په آدرس د فساد تور محدود کړي، پدې عنوان چې پخوانیو جهادي تنظیمونو سره تړلي عناصر بیت المال وهي، لوټمار کوي، په ملي بودیجه کې خیانت او اختلاس کوي، خو اوس چې په نظام کې د غرب او بهر نه را ستانه شویو کارپوهانو دور ده، نو فساد پکې اوج ته رسیدلی دی.

یو شمیر خو په دې اند دي چې فساد د کرزي له حکومت نه په میراث پاتې دی او د ملي وحدت حکومت به فساد سره مبارزه کوي او مخه به یې نیسي، خو ولیدل شول چې د موجوده حکومت لخوا غوره شوي او ټاکل شوي چارواکي هم په دغه مصیبت اخته دي او ډنډوري یې رسنیو ته راوتلې دي.

له بده مرغه اوس هم زمونږ هیواد د نړۍ په سطحه د هغو هېوادونو په کتار کې دی چې په لوړه اندازه فساد پکې وجود لري او ملي شتمنۍ پکې د څو تنو په لاس لوټېږي.

په هر صورت! فساد د نظام جړې وباسي، د فساد بلا او مکروب د نظام لپاره تر جګړې او نا امني زیات خطرناک دی، ځکه چې فساد جګړه زېږوي او جګړه غښتلې کوي، فساد زمونږ راتلونکي ته خطر دی، فساد زمونږ د پرمختګ، ترقۍ او سوکالۍ مخه نیسي او فساد دی چې مونږ په خپلو پښو دریدلو او د نورو له احتیاج نه خلاصېدلو ته نه پرېږدي.

وطن پالنه او له هیواد سره مینه یوازې دا نه‌ده چې ملي بیرغ له ځان څخه تاو کړي او په وینا کې د وطن سره د مینې اظهار وکړي، یا هم ملي سرود ته ودرېږي، بلکې اصلي وطن پالنه دا ده چې خپله ګټه له ملي ګټو نه ځار کړي، خپله وړی او په نیمه خیټه وګرځي، ولې ملي شتمنۍ د وطن په آبادۍ او د ملت په سوکالۍ کې ولګوي او له ملي ممتلکاتو او دولتي وسایلو نه د ځان او کورنۍ په ګټه کار وانخلي.

له فساد سره مبارزه فرض ده، دا د هر افغان دنده او وجیبه ده، مونږ باید ټول د فساد او مفسد په خلاف سره یو لاس او یو موټی اوسو او د هغو کسانو مخه ونیسو چې ملي ګټې له شخصي هغو قربانوي. له ملي شتمنیو ساتنه وکړو، دا فرصت برابر کړو چې په خپلو امکاناتو د فقر، مرض، بې کاری، ناپوهۍ، او د ټولو ناخوالو کچه کمه کړو او د الله تعالی په مرسته یې بیخي له منځه یوسو او پدې توګه خپلو هیوادوالو ته د نیکمرغه او سوکاله ژوند فرصت برابر کړو.

کار اصلی علم، تزکیه‌ی نفس

ترجمه: مؤمن حکیمی

باید بدانیم که وظیفهٔ تزکیه در همین امر خلاصه نمیشود که از جوانب مختلف نفس انسانی بحث نموده و نارسایی آنرا دور و خوبی ها و فضایل را بعوض آن جابجا سازد. بلکه کار اساسی و اصلی او ازین بحث و تمحیص و تعلیم و تلقین یک قدم پیشتر است. و آن اینکه علم تزکیه در پی آنست که نفس ما را در تمام پهلوی های آن چنان تربیت کند که بالآخره به نفس مطمئنه تبدیل شود.

مطلب از نفس مطمئنه اینست که علم و شناخت ما بر چنان یقین محکم استوار گردد که، در رنج و راحت، در مشقتها و آسانی ها و بالآخره در هر حالتی اعتماد و حسن ظن ما نسبت به الله متعال متزلزل نشده و در هر حالتی از الله جل جلاله راضی و مطمئن باشیم.

عمل ما را بر چنان سیرت قوی بنیاد نهد که امتحانات روزگار، در تنگدستی ها و فراخی ها، در حالات خوف و طمع از مسیری که شریعت اسلامی تعیین کرده است به بیراهه نرود و همان کارهایی را انجام دهد که الله متعال میپسندد و ما را بندهٔ صالح الله جل جلاله میگرداند.

قرآن کریم نفس مطمئنه را با این الفاظ یاد نموده است:

يا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ (۲۷) ارْجِعِي إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَرْضِيَّةً (۲۸)

[الفجر: ۲۷، ۲۸]

«ای جان آرام گرفته و اطمینان یافته!(۲۷) به سوی پروردگارت در حالی که از او خشنودی و او هم از تو خشنود است، باز گرد.(۲۸)»

از خوب بسوی خوبتر:

از تفصیلاتی که گذشت، واضح می‌گردد که مطمح نظر تزکیه درین خلاصه نمی‌شود که نفس انسانی تا حدی پاک گردیده و به راه راست درحرکت شود. بلکه تزکیه می‌خواهد که نفس انسان هر چه بیشتر و پیشتر قدم گذاشته و از خوب به سوی خوبتر برود. مقصد از تزکیه تنها این نیست که ما تا اندازه ای از شریعت الهی علم حاصل نموده و به آن عمل کنیم. بلکه در برابر ما آفاق وسیعی از شناخت و معرفت صفات الهی را می گشاید تا درین فضای بیکران به پرواز درآییم. کار تزکیه تنها این نیست که عادات و افکار ما را تا حدی بهبود بخشد، بلکه از ما میخواهد که پیکر مجسم مکارم اخلاق گردیم. مقصد از تزکیه این نیست که نفسهای ما تا اندازه ای در قید احکام شرعی بیاید، بلکه مطالبهٔ اصلی تزکیه اینست که نفس ما آنچنان تابع حکم الله و رسول او گردد که حق الله و رسولش تقاضا می کند. نه تنها این که ما بندگی الله را انجام دهیم، بلکه او تعالی را چنان عبادت کنیم که گویا به چشم سر او را مشاهده می کنیم.

خلاصه اینکه تزکیه خواسته های ایمان، اسلام و احسان را یکجا در برابر ما قرار می دهد. و از ما میخواهد که الله متعال را با همه صفاتش بپذیریم و از احکام الهی در هرگوشهٔ زندگی خود اطاعت کنیم. البته نه اطاعت رسمی و ظاهری بلکه اطاعتی از ما میخواهد که کاملاً شعوری بوده و با للهیت خالص همرا باشد و در آن همزمان با اعضاء و جوارح قلب ما نیز شرکت داشته باشد.

این نکات است که تزکیه را به جد و جهد مسلسل و تلاش مستمر مبدل ساخته است که درین مسیر هیچ جایی را برای توقف نمی‌شناسد. درین سفر هیچ منزلی را نمیتوان آخرین منزل نامید و با رسیدن به آن به این تصور شد که به کمال مقصود و منزل معهود رسیده ایم. تزکیه تلاش است که از خوب بسوی خوبتر می رود، درین سفر هر قدر که در عمل، اخلاق، ظاهر و باطن انسان درخشش ایجاد گردد، به همان اندازه در لطافت ذوق، ذکاوت احساس، و بصیرت قلب انسان افزون می‌گردد.

این خاصیت و فطرت تزکیه باعث شده است که دست یازیدن به آن برای بعضی افراد مشکل گردد. و اگر چنین افراد را وسعت میدان تزکیه به هراس نیاندازد، طولانی بودن راه حتما او را حیران و هراسان می سازد. و فکر می‌کنند که رفتن درین راه شاید برایش کمرشکن تمام شود.

ولی اگر تزکیهٔ نفس خود را به صورت تدریجی و به گونه ای که پیامبر صلی الله علیه وسلم تعلیم داده است، آغاز کند، طولانی بودن راه نه تنها سبب خستگی و کسالت او نمی شود، بلکه در جریان راه با فتوحاتی که بدست می آورد، احساس سرافرازی و پیروزی برایش دست میدهد و او را درین راه طولانی بدرقه می کند.

کسانیکه درین راه می روند در هر قدم از سوی عالم غیب رهنمایی هایی صورت میگیرد و این رهنمایی ها آنقدر تسلی بخش است که همت انسان را چند برابر ساخته و خستگی راه را کاملاً از بین می برد.

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ

[العنکبوت: ٦٩]

«و کسانی که برای [به دست آوردن خشنودی] ما [با جان و مال] کوشیدند، بی‌تردید آنان را به راه‌های خود [راه رشد، سعادت، کمال، کرامت، بهشت و مقام قرب] راهنمایی می‌کنیم؛ و یقیناً خدا با نیکوکاران است»

قضیهٔ «دیورند» و تاثیرش بر روابط افغانستان و پاکستان

مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی

در حالیکه اقدام پاکستان برای ساخت حصار مرزی در سراسر خط فرضی دیورند با مخالفت‌های زیادی در افغانستان مواجه شده است؛ به تازه‌گی نیکلاس کی سفیر بریتانیا در کابل، اظهار داشته است که «به نظر بریتانیا و جامعهٔ بین‌المللی، خط دیورند سرحد رسمی میان افغانستان و پاکستان است و پاکستان حق دارد در بارهٔ مدیریت مرزهای کشورش طوری که می‌خواهد عمل کند».

وزرات سرحدات افغانستان در واکش به سخنان اخیر سفیر بریتانیا گفته است «هیچ سند رسمی وجود ندارد که دلالت به رسمی بودن خط دیورند نماید و چنین اظهارات، خلاف اصول دیپلوماتیک است». شورای امنیت ملی افغانستان نیز با نشر اعلامیه‌ای از تمام سفیران و نماینده‌گان سیاسی خارجی مستقر در افغانستان خواسته است که به حقوق و ارزش‌های تاریخی و ملی افغانستان از جمله خط دیورند، احترام بگذارند. مجلس سنای افغانستان اظهارات سفیر بریتانیا را محکوم کرده و آنرا مداخلهٔ آشکار در امور داخلی افغانستان و دسیسهٔ بریتانیا در منطقه خوانده است. مجلس سنا، حکومت افغانستان را نیز به خاموشی در مورد کشیدن سیم خاردار در امتداد خط دیورند متهم کرده است.

در این تحلیل بر پیشینهٔ خط فرضی دیورند، تاثیر این قضیه بر روابط افغانستان و پاکستان، و اینکه در حال حاضر دامن زدن به این قضیه به کجا می‌انجامد، پرداخته شده است.

خط دیورند

خط فرضی دیورند در سال ۱۸۹۳م با امضای توافقنامه‌ای میان «هنری مورتیمر دیورند» وزیر خارجهٔ هند بریتانیایی و امیر عبدالرحمن خان پادشاه وقت افغانستان ترسیم شد. براساس این توافقنامه، بخشی از خاک افغانستان به عنوان منطقهٔ تحت نفوذ هند بریتانیایی در اختیار این دولت قرار گرفت.

پس از استقلال پاکستان در سال ۱۹۴۷م، مناطق آن سوی خط دیورند به عنوان مناطق خودمختار قبایلی با پاکستان تعلق گرفت؛ ولی این خط هیچ‌گاه از سوی افغانستان و نیز برخی از احزاب مطرح در آن سوی دیورند (نشنل عوامی پارتی و حزب پشتونخوا)، به عنوان سرحد رسمی میان افغانستان و پاکستان، به رسیمت شناخته نشده است. از همین جاست که در سپتامبر ۱۹۴۷م هنگامی که پاکستان برای کسب عضویت سازمان ملل اقدام کرد، افغانستان یگانه کشوری بود که به دلیل عدم شناخت رسمی مناطق آن سوی خط دیورند، با عضویت پاکستان در این سازمان مخالفت کرد. پس از تشکیل پاکستان، این مسأله به‌عنوان یک مشکل همیشگی میان دو کشور باقی مانده است و روی سیاست خارجی پاکستان در قبال افغانستان سایه افکنده است، چون همین قضیه یکی از عواملی است که پاکستان در پی دست یافتن به «عمق استراتیژیک» در افغانستان برآمده است.

چرا خط دیورند برای افغانستان قابل قبول نیست؟

خط دیورند که در دوران استعمار انگلیس‌ها ترسیم شده، تاکنون از سوی افغانستان به عنوان مرز رسمی به رسمیت شناخته نشده است. در رابطه به این قضیهٔ دلائلی با جانب افغانستان وجود دارند که برای آن‌ها پاسخ‌های قانع‌کننده داده نشده‌اند:

اول: براساس تحقیق‌هایی که حسن کاکر تاریخ‌نویس معروف افغانستان در آرشیف‌های دهلی، لندن و کابل انجام داده است، هیچ سند فارسی و یا انگلسی وجود ندارد که در آن امضای امیر عبدالرحمن خان موجود باشد.

دوم: شواهد تاریخی نشان می‌دهد که امیر عبدالرحمن خان یک نقشهٔ خط دیورند را اصلاح نموده، ولی باز هم روی آن امضا نکرده است.

سوم: امیر عبدالرحمان از سال ۱۸۹۵ الی ۱۸۹۷م چندین نامه را به انگلیس‌ها فرستاده و مخالفت خود را در مورد برخی مناطقی که خط دیورند از آن‌ها گذشته است، به انگلیس‌ها ابراز کرده و عبور خط دیورند از آن مناطق را زیر سوال برده است.

چهارم: افغانستان در آن زمان دارای یک دولت ضعیفی بود که نماینده‌گی تمام افغانستان را نمی‌کرد؛ به همین دلیل اگر سندی با امضای امیر عبدالرحمن خان نیز پیدا شود، دولت وقت نماینده‌گی موضع تمام مردم افغانستان را نمی‌کرد.

پنجم: براساس معاهدهٔ گندمک، افغانستان پس از جنگ دوم افغان-انگلیس تا زمان جنگ استقلال، یک دولت تحت‌الحمایه بود که پالیسی‌های خارجی آن در کنترول انگلیس‌ها بوده و به همین دلیل افغانستان در آن زمان از هیچ‌گونه شخصیت بین‌المللی و صلاحیت عقد چنین توافقی برخوردار نبود.

ششم: اگر توافقنامهٔ دیورند به عنوان یک «توافقنامه» مطرح بوده، پس چرا به تصویب پارلمان انگلیستان یا افغانستان و یا هم یکی از لویه جرگه‌ها نرسیده است.

هفتم: اگر توافقنامهٔ دیورند یک توافق دایمی بوده، پس انگلیس‌ها چرا با هر شاه جدید برای عقد دوبارهٔ آن اقدام کرده است. چنانچه حسن کاکر نیز براساس تحقیقاتی که انجام داده، آنرا یک معاهدهٔ موقت خوانده است.

هشتم: در زمان عقد معاهدهٔ دیورند کشوری بنام پاکستان وجود نداشت و پس از خروج بریتانیا از هند، این نیم‌قاره بر دو بخش پاکستان و هندوستان تقسیم گردید؛ ازین‌رو پاکستان جانشین قانونی انگلیستان نیست و حقوق قانونی این سند -هرچند به امیر عبدالرحمن خان نیز رسیده باشد- به دولت پاکستان انتقال یافته نمی‌تواند.

نهم: در آن زمان انگلیس‌ها از یک‌سو از تهاجم روسیه بر هند ترس داشتند و از سوی دیگر نگران دست‌درازی امیر عبدالرحمن خان در مناطق قبایلی بودند. به همین دلیل توافق خط دیورند تنها به عنوان تقسیم ساحهٔ نفوذ میان امیر عبدالرحمن خان و انگلیس‌ها بود، نه به عنوان یک سرحد رسمی.

دهم: همه‌پرسی که در صوبهٔ سرحدی شمال غرب پاکستان (خیبر پشتونخوای کنونی) پس از تشکیل پاکستان انجام شد، به چند دلیل ناقص پنداشته می‌شود. نخست: تنها ۵۱ درصد از افراد واجد شرایط -آن هم بدون تصفیهٔ آرای جعلی و تقلبی- در آن رفراندوم اشتراک کرده بودند. دوم: اکثریت هندوهای این صوبه که واجد شرایط رای‌دهی بودند، در آن زمان به هندوستان مهاجر شده بودند. سوم: در انتخابات صوبه‌یی سال‌های ۱۹۳۹ و ۱۹۴۵ نیز برندهٔ انتخابات جنبش «کانگرس و خدایی خدمتگار» به رهبری داکتر خان بود و «مسلم لیگ» با اجندای تشکیل پاکستان بازندهٔ انتخابات بود.

روابط کابل-اسلام‌آباد در سایهٔ خط دیورند

مناقشهٔ مرزی میان افغانستان و پاکستان در چند دههٔ گذشته موجب تنش‌ها میان کابل و اسلام‌آباد بوده است، تنش‌های که هنوز هم با قوت پا برجاست.

محمد داوود خان، نخستین رئیس جمهور افغانستان بود که با خط دیورند به عنوان مرز رسمی بین دو کشور مخالفت کرد و بر پیوستن مردم آنسوی خط با افغانستان تأکید داشت که این مسئله به تنش‌ها و حتی خطر درگیری بین دو کشور نیز در آن زمان رسید. پس از سقوط حکومت محمد داوود خان و روی‌کار آمدن رژیم خلق و بعدا تجاوز شوروی سابق بر خاک افغانستان، کشور از هر نگاه با ضعف تدریجی جدی روبرو شد؛ در دوران جهاد علیه شوروی سابق؛ دورهٔ حکومت مجاهدین؛ دوران جنگ‌های داخلی و نیز رژیم طالبان با وجود خواست‌های مکرر پاکستان، تمامی حکومت‌های افغانستان خط دیورند را به حیث سرحد رسمی میان دو کشور به رسمیت نشناخت.

پس از سال ۲۰۰۱ در هر دو دورهٔ ریاست جمهوری حامد کرزی نیز قضیهٔ دیورند روی روابط دو کشور سایه افگنده بود. کرزی بارها اعلام کرد که خط دیورند را به رسمیت نمی شنا سد .

با روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی تنش‌ها میان دو کشور به حدی بیشتر شد که به درگیری‌های مرزی میان دو کشور نیز انجامید. در این زمان نسبت به دوره‌های گذشته، بیشتر به این قضیه دامن زده شده است. ساخت دیوار آهنی و سیم خاردار در امتداد خط دیورند از سوی پاکستان که در برخی مناطق شماری از قریه‌ها را به دو حصه تقسیم می‌کند، نیز باعث تشدید تنش‌ها در روابط کابل و اسلام‌آباد گردیده است. چنانچه رئیس جمهور غنی در واکنش به این اقدام پاکستان، ماه گذشته در ولایت پکتیا اظهار داشت: «آنانی که می‌خواهند با سیم خاردار مردم ما را از هم جدا سازند، باید دوباره فکر کنند».

آیا قضیهٔ دیورند حل شدنی است؟

پاکستان تلاش دارد با استفاده از هرگونه فشار، دولت افغانستان این خط را به رسمیت بشناسد. در زمان حکومت وحدت ملی برخی سیاسیون و فعالان مدنی از توافقات مخفی این حکومت در مورد قضیهٔ دیورند نیز سخن گفته‌اند، به خصوص زمانیکه روی عملیات در دو طرف خط دیورند توافق صورت گرفت. اخیرا اعضای مجلس سنای افغانستان نیز، حکومت را در خصوص ساخت حصار مرزی در امتداد خط دیورند به معامله‌گری با اسلام‌آباد متهم کرده است، اما حکومت وحدت ملی همواره چنین ادعاها را رد کرده و این قضیه را مافوق صلاحیت‌های خود دانسته است.

از سوی دیگر، برخی کشورها نیز در تلاش به رسمیت شناختن خط دیورند هستند. چنانچه مارک گروسمن نمایندهٔ خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان در سال ۱۳۹۱هـ ش گفته بود: «دیورند مرز رسمی بین دو کشور است» و سفیر وقت امریکا در کابل اظهارات او را تایید کرده و گفته بود که «نه تنها امریکا بلکه اکثریت کشورها خط دیورند را به عنوان مرز رسمی میان دو کشور می‌شناسند». اکنون بار دیگر سفیر بریتانیا در افغانستان این قضیه را همان گونه مطرح کرده است.

در کنار تلاش‌های همیشگی پاکستان و اظهارات دیپلومات‌های خارجی، برخی افراد و حلقات سیاسی در داخل کشور نیز به رسمیت شناختن خط دیورند از سوی افغانستان دامن می‌زند. به باور آن‌ها، همین قضیه باعث مداخلات پاکستان در افغانستان گردیده و تا زمانی که این قضیه حل نشود، مشکل افغانستان با پاکستان حل نخواهد شد.

با در نظرداشت این تلاش‌ها، باید گفت که به رسمیت شناختن خط دیورند مشکل افغانستان با پاکستان را حل نخواهد کرد. نخست اینکه هرچند با به رسمیت شناختن دیورند از جانب افغانستان، تشویش‌های پاکستان برای همیشه از بین خواهد رفت، ولی از آنجاییکه خط دیورند عملا در دست پاکستان است، در حال حاضر این قضیه اهمیت آنچنانی برای پاکستان ندارد. دوم اینکه مشکل اصلی پاکستان در افغانستان یک حکومت طرفدار پاکستان و یا به عبارهٔ دیگر دست یافتن به «عمق استراتیژیک» در افغانستان است، تا روابط افغانستان با هند، در کنترول پاکستان باشد و یا حداقل روابط کابل-دهلی نسبت به روابط کابل-اسلام‌آباد پرتنش باشد.

بنابراین، در حال حاضر با در نظرداشت شرایط حاکم بر منطقه و وضعیت حکومت افغانستان، حل این قضیه ممکن به نظر نمی‌رسد، بالعکس دامن زدن به این قضیه روابط دو کشور را بیش از پیش وخیم‌تر خواهد ساخت.

د افغانستان جګړه قومي نه

د امریکا د ګټو جګړه ده

عبدالکریم خُرم

اما په تیره میلادي میاشت کې د ایران بهرنیو چارو وزارت د منځني ختیز، مرکزي آسیا او افغانستان په اړه درې ورځنی کنفرانس جوړ کړی ؤچې ما هم د ځینو افغاني شخصیتونو ترڅنګ پکې برخه درلوده.

کله چې د افغانستان د جګړې او د هغو اوږدیدو د عواملو په هکله بحث پیل شو ترما مخکې د ایران د بهرنیو چارو وزارت استازي، دوو تنو ازبکستاني او ترکمنستاني کارپوهانو خپل نظریات وړاندې کړل. یو نظر دا وړاندې شو چې دافغانستان جګړه د هویت د بحران جګړه ده، نوی نسل په بې وطنۍ او جګړه کې رالوی شوی او د خپل هویت ستونزه لري او دې د تفاهم لاره ډب کړې. بل نظر دا ؤ چې د افغانستان جګړه د بیلابیلو قومونو تر منځ جګړه ده او بالآخره دا نظر هم وویل شو چې د افغانستان جګړه د پښتنو خپلمنځي جګړه ده.

ما ته چې نوبت راورسید ما ویل د افغانستان جګړه د امریکا جګړه ده چې غواړي د یواځینې ستر قدرت په حیث خپل موقعیت په نړۍ کې حفظ کړي. امریکا چې د افغانستان د جهاد له برکته او د شوروي اتحاد له ړنګیدو سره په یواځینې ستر قدرت بدل شو غواړي د نړۍ یو قطبي حالت حفظ کړي او د څو قطبي کیدو مخه یې ونیسي.

د همدې لپاره د امریکا متحده ایالات د خپلو ژیوستراتیژیکو او ژیوایکونومیک ګټو لپاره غواړي هغه هیوادونه محدود وساتي او د قدرت د پراخیدو لاره یې بنده کړي چې په بالقوه ډول د نړۍ په لویو قدرتونو د بدلیدو توان لري. دا هیوادونه عبارت دي له روسیې او چین څخه چې په دوهم پړاو کې هند او ایران هم پرې اضافه کیږي. ما وویل «تاسو اشتباهاً معلولونه د علتونو په ځای راولئ» زما له نظره که په افغانستان کې چیرته قومي اختلافات او یا احیاناً کومه قومي شخړه شوې او یا ځینو کسانو د قومي تعصب پر بنسټ جنایات ترسره کړي دي، علت یې د بهرنیانو خصوصاً د امریکا د متحده ایالاتو استعماري سیاست او اراده ده، او همدغه په جنایاتو کې ښکېل کسان د امریکا قراردادیان دي.

ما له ګډونوالو وپوښتل دلته چې د کومو هیوادونو استازي شته آیا په ټولو کې تر افغانستان زیات قومونه ژوند نه کوي؟ آیا په ایران کې د قومونو شمیر تر افغانستان لږ دی؟ نو څنګه د بیلابیلو قومونو موجودیت په نورو هیوادونو کې جګړه نه زیږوي او یوازې افغانستان دی چې ګواکې قومونه پکې سره په جنګ دي.

په افغانستان کې د ډیرو کلونو راهیسې امریکایان او انګریزان په دې بوخت دي چې قومونه سره بیل کړي او د «بیل یې کړه ایل یې کړه» یا «تفرقه واچوه او حکومت وکړه» استعماري اصل پر بنا نه یوازې د افغانانو د ایلولو هڅه کوي بلکې د سیمې په کچه غواړي موجود دولتونه په شخړو واړوي او د قومي او توکمیزو تفرقو په وسیله یې تضعیف کړي او بحران ایجاد کړي.

دغه د بحران حلقه به تر چین او روسیې راتاو شوې وي او دا هیوادونه به په دې توګه له خپلې محدودې د وتلو او پر اقتصادي سیالو قدرتونو د بدلیدلو وس له لاسه ورکړي.

د ۲۰۰۱ کال د بن کنفرانس او له هغو د راوتلې اداري ترکیب ته که وګورو د افغانستان په هکله د امریکا د متحده ایالاتو پالیسي راته څرګندیږي.

د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په بن کې واك پر قومونو وویشل شو او زموږ هیواد ته د لبنان په شان نظام د جوړولو هڅه وشوه.

خو افغانانو وړاندې تګ ته ادامه ورکړه او د ملت جوړونې او دولت جوړونې په لار کې یې بریالیتوبونه ترلاسه کړل.

د بن له استعماري تقسیم څخه وروسته په ۲۰۰۴ کال کې د جمهوري ریاست لومړني انتخابات تر سره شول. په دغو انتخاباتو کې د بن د تقسیماتو اثرات لا موجود وو او مهم کاندیدان پر قومي اساس دانتخاباتو میدان ته راننوتل. خو دغه شوم اثرات ورو ورو په ټولنه کې زایل کیدل او ومولیدل چې د۲۰۰۹ کال انتخاباتو کې یې تر زیاته حده رنګ بایللی ؤ.

په همدې انتخاباتو کې امریکا د وخت پر ګټونکي کاندید حامد کرزي فشار راوړ چې د اجرائیه ریاست په منلو سره بیا د قدرت ویش رامنځته کړي. د نوموړي مقاومت دغه دسیسه هم شنډه کړه. وروسته بیا د یوناما په رأس کې د اشداون د ګومارلو هڅه او بالآخره د طالبانو لپاره د قطر دفتر ته د پښتنو د نمایندګۍ بڼه ورکول، هغه هڅې وې چې امریکا په افغانستان کې د قدرت ویشلو له لارې د یو ضعیف او تحت الحمایه نظام د ایجادولو لپاره ترسره کړې خو پکې بریالي نه شول.

امریکا په کلکه غواړي د افغانستان جګړه قومي بڼه غوره کړي، د دې لپاره چې خپلې راتلونکې استعماري تګلارې په آسانه تطبیق کړي. ددې هدف د ترلاسه کولو لپاره هڅې هم کوي. د داعش په رامنځته کولو دا کوشش کوي چې مذهبي تفرقه هم ایجاد کړي خو دافغانستان واقعیت دا دی چې په زابل کې د داعش لخوا برمته شوي شیعه او هزاره وطنوال د پښتنو طالبانو لخوا را خوشې کیږي.

نو د افغانستان جګړه قومي بلل هغې امریکا ته براأت ورکول دي چې غواړي د دوی د ګټو لپاره د روانې جګړې خاشاک هم افغانان وي او په کې ملامت او پړه هم افغانان وي.

له ویسا ورځپاڼې نه په مننې

آیا اسلام معتدل و افراطی داریم؟

احمد فرید فرزاد هروی

در این روزها با چرخش ۱۸۰ درجه ای سعودی‌ها به تعبیر خودشان از «اسلام افراطی» به «اسلام معتدل» بحث‌هایی در مورد اسلام‌هایی متفاوت رد و بدل می‌شود.

اول: اسلام همان یکی است؛ اسلام قرآن و سنت رسول الله صلی الله علیه و سلم... اسلام افراطی و تفریطی نداریم. اسلام خود معتدل است و افراط و تفریط را نمی‌پذیرد. یعنی این که نمی‌توان گفت که ما از اسلام افراطی به سوی اسلام معتدل می‌رویم. این بدان معنی خواهد بود که چندین اسلام وجود دارد. اسلام نظریه‌ی انسانی نیست که چندین مدل ارائه شود؛ بلکه این برداشت‌های نا موزون انسان‌هاست که افراط و تفریط پذیر است. اسلام همان اسلام وسط و میانه است و بر اساس اعتدال و فقط همین.

دوم: برداشت‌های دیگران نمی‌تواند نماینده گی از اصل اسلام بکند. زیرا هر کس برداشتی دارد و بدیهی است که ممکن برداشت اش اشتباه باشد، نمی توان با این اشتباه گفت که اسلام در اشتباه است.

سوم: هر کس از آموزه‌های دینی برداشتی دارد و پیروانی! خیلی خوب، داشته باشد، نمی‌توان آن را اسلام گفت، بلکه برداشت فردی خودش است... برداشتی از اسلام درست است که اصولی باشد، نه سلیقه‌ای! نه برشی! و نه هم بر اساس مد روز و اکت روشنفکرانه!

قرآن و سنت دارای ثوابت و اصول است، هر برداشتی که بر اساس همین اصول بود، اسلام است و سایر برداشت‌های خارج از این اصول هیچ ربطی به اسلام ندارد، بلکه برداشته‌های وارونه از اسلام است.

این چنین برداشت‌ها، پس از پیامبر بوده و تا کنون هم است. پیامبران کاذبی که بعد از پیامبر صلی الله علیه و سلم آمدند برداشتی از اسلام داشتند و خود شان را نیز پیامبر، خوارج برداشتی داشتند، معتزله برداشتی! شیعه برداشتی! برخی از متکلمین برداشت‌هایی و فیلسوف‌های معاصر هم برداشتی و پیروانی!

پس؛ اسلام نمی‌تواند در برداشت‌های دیگران تفسیر و تبیین شود، همان‌طور که بر اساس اعمال دیگران و پیروانش سنجیده نمی‌شود، بلکه اسلام بر اساس اصول و ثوابت دینی (قرآن و سنت) شناخته می‌شود. ازین‌رو، هیچگاه نمی‌توان گفت که اسلام افراطی و یا اسلام میانه رو و یا اسلام تفریطی داریم؛ بلکه این برداشت‌های دیگران است که ممکن افراطی، تفریطی باشد.

در اخیر باید گفت که در اسلام هیچگاه راننده گی زن ممنوع نبوده که سعودی‌های مستبد بنا به سلیقه و برداشت متحجرانه‌ی خویش و مصلحت‌های سلطنتی خویش آن را با پوشش دینی ممنوع کرده بودند. نه ممنوعیت آن به نام اسلام افراطی غلط و اشتباه است و هم آزاد کردن آن تحت عنوان اسلام معتدل!

سعودی‌ها زیر پوشش اجرای احکام دینی سلطنت خویش را توجیه می‌کردند، اکنون با رویکردی فریبنده‌تر با نام اسلام معتدل می‌خواهند چهره عوض کنند. باید گفت که هیچ یک از کارهای این خاندان هیچ سنخیتی با اسلام نداشته و ندارد. ایشان خود را با نام افراطی و معتدل فریب می‌دهند.

اسلام نمی‌تواند در برداشت‌های دیگران تفسیر و تبیین شود، همان‌طور که بر اساس اعمال دیگران و پیروانش سنجیده نمی‌شود، بلکه اسلام بر اساس اصول و ثوابت دینی (قرآن و سنت) شناخته می‌شود. ازین‌رو، هیچگاه نمی‌توان گفت که اسلام افراطی و یا اسلام میانه رو و یا اسلام تفریطی داریم؛ بلکه این برداشت‌های دیگران است که ممکن افراطی، تفریطی باشد.

habibi@eslahonline.net

گلګرګهای ادبی

به خداوند خوش‌بین باش!

در ابتدا پیراهن یوسف، سبب غم و اندوه یعقوب گردید: «وَجَآؤُوا عَلَىٰ قَمِيصِهِ بِدَمٍ كَذِبٍ» (و پیراهنش را آغشته به خونی دروغین آوردند.) (یوسف-۱۸)

و در نهایت همان پیراهن سبب خوشحالی یعقوب گشت: «اذْهَبُواْ بِقَمِيصِي هَـٰذَا فَأَلْقُوهُ عَلَىٰ وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيرًا» (این پیراهن مرا ببرید و آن را بر چهره پدرم بیفکنید تا بینا شود.) (یوسف-۹۳)

چه بسا آن چیزی که امروز سبب اندوه تو میشود؛ فردا موجب شادمانی‌ات گردد. بنابراین بر خداوند توکل کن و به او اعتماد داشته باش.

آیا د حج معادل ثواب غواړئ؟

هر مسلمان په زړه کې هیله لري، چې د بیت الله په لور سفر وکړي، او د هغه ستر ثواب څخه چې الله تعالی د حج اداء کوونکي ته ورکوي ورڅخه برخمن شي، مګر یو شمېر نور عبادات هم شته، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو د ترسره کولو ثواب د حج معادل ګڼلی دی، چې په لاندې ډول دي:

- د زړه د اخلاصه د حج نیت.
- د سهار د لمانځه جماعت ته پابندي.
- جومات ته د علم د زده کړې او یا نورو ته دښودلو لپاره تګ.
- فرض لمونځونه په جماعت ا داء کول.
- په رمضان کې د عمرې اداء کول.
- له مور او پلار سره نیکي.

انسان جوړه کړه، نړۍ خپله جوړېږي!

یو ماشوم چې د نړۍ نقشه یې په لاس کې وه پلار ته یې دنقشې په یوه برخه ګوته کېښوده او ترې ویې پوښتل: پلار جانه دا کوم ځای دی؟

پلار یې ورته وویل: زوی جانه اوس په مطالعه بوخت یم وروسته یې بیا درته وایم.

خو ماشوم اصرار درلود چې همدا اوس به یې راته وایې. پلار یې هم په غوصه شو، نقشه یې ترې واخیسته په لاس کې یې و مروړله او ټوټه ټوټه یې کړه. خو زوی یې دا ځل نور هم پلار ته مزاحمت زیات کړ، په چیغو او ژړا سر شو.

پلار یې ورته وویل سمه ده درته وایم یې خو ته لومړی د نقشې ټوټې سره را ټولې او یو ځای کړه، موخه یې د ماشوم بوختول و. ماشوم هم لاس په کار شو او ډېر ژر یې د نقشې ټوټې سره راټولې او یو ځای کړې او نقشه یې د پلار مخې ته کېښوده. پلار یې حیران شو چې څنګه یې دومره ژر وکولی شول چې د نقشې ټوټې سره راټولې او برابرې کړي، د دې کار راز یې ترې و پوښت؟

ماشوم وویل: د نقشې په بل مخ د انسان انځور دی، هغه مې چې کله سره سم کړ نو د ټولې نړۍ نقشه هم سمه شوه!

د پرنجي ځواب!

عبدالله ابن مبارک چې یو مجتهد او عالم شخص و، د هغه په مجلس او درس کې به په لسګونو خلکو ګډون درلود تر څو یې له علمیت څخه برخمن شي، یوه ورځ له خپل یو دوست سره په لاره روان و، چې چې دوست یې پرنجی وکړ مګر الحمدلله یې ونه ویلې، ابن مبارک هغه ته وکتل تر څو پوه شي او الحمدلله ووایي، خو هغه ځواب ورنکړ، ابن مبارک رحمه الله ورته وویل، چې له پرنجي وروسته خلک څنګه وایي؟ هغه شخص ځواب ورکړ الحمدلله، ابن مبارک رحمه الله ورته وویل یرحمک الله

معلومات

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

کوترې هم د ناروغۍ تشخیص کوي!

په امریکا کې ډاکترانو موندلې ده، چې کوتره کولای شي دانسان په بدن کې دسرطاني حجرو درک معلوم کړي.

دا اوس دحېرانتیا خبره نه ده، چې له دې وروسته به روغتونونه د سرطان په تشخیص کې له کوترو کار اخلي، ځکه چې ځیړونکو منلې ده، چې کوتره دا وړتیا لري، چې د ډاکتر په څېر ناروغي تشخیص کړي.

پوهان باوری دی چې د ماموگرام معایناتو په وسیله دانسان په بدن کې د حمیده او خبیثه حجرو نښې نښانې معلومې کړي.

کوترو تراوسه پورې د ۸۵ فیصده معایناتو سمه اندازه لګولې ده .

په معایناتو او ارزونه کې اتو کوترو برخه درلوده او ټولې توانیدلې دي، چې هغه ځایونه په نښه کړي، چې دسینې د سرطان نښه یې درلوده.

د کالیفورنیا پوهنتون استاد لیفینسون پردې باور دی، چې کېدای شي کوتره د تشخیص د نویو لارو چارو په دودولو او رامنځته کولو کې مهم رول ولوبوي.

سره له دی، چې د کوترې د دماغ اندازه ډیره وړه ده، خو عصبي جوړښت یې انسان ته ورته دی، ځکه خو کولای شي، چې په ډېره اسانۍ ناروغي تشخیص کړي.

مهم و مهمتر!

روزی دست پسر بچه‌ای در گلدان کوچکی گیر کرد و هر کاری کرد، نتوانست دستش را از گلدان خارج کند. به ناچار پدرش را به کمک طلبید. اما پدرش هم هر چه تلاش کرد نتوانستند دست پسر را از گلدان خارج کنند. گلدان گرانقیمت بود، اما پدر تصمیم گرفته بود که آن را بشکند.

قبل از این کار به عنوان آخرین تلاش به پسرش گفت: «دستت را باز کن، انگشت‌هایت را به هم بچسبان و آنها را مثل دست من جمع کن. آن وقت فکر می‌کنم دستت بیرون می‌آید.»

پسر گفت: «می‌دانم اما نمی‌توانم این کار را بکنم.»

پدر که از این جواب پسرش شگفت‌زده شده بود پرسید: «چرا نمی‌توانی؟

پسر گفت: «اگر این کار را بکنم سکه‌ای که در مشتم است، بیرون می‌افتد.

شاید شما هم به ساده‌لوحی این پسر بخندید، اما واقعیت این است که اگر دقت کنیم می‌بینیم همه ما در زندگی به بعضی چیزهای کم‌ارزش، چنان می‌چسبیم که ارزش دارایی‌های پرارزشمان را فراموش می‌کنیم و در نتیجه آنها را از دست می‌دهیم.

چرا حفظ زبان؟

سلف و گذشتگان اختلاف نظر دارند که آیا کلام و سخن مباحی وجود دارد که خوب و بد بودن آن مساوی باشد؟

دو نظریه وجود دارد:

- نظریه اول: هیچ سخن و کلامی نیست مگر اینکه به سود یا به زیان انسان تمام میشود و سخنی وجود ندارد که نه به ضرر او باشد و نه به سود او. چرا که همه سخنان انسان توسط کاتبان نوشته میشود و این در حالی است که تنها خیر و شر نگاشته میشود.
- نظریه دوم: گروهی هم گفته اند سخن مباح وجود دارد چرا که بعضی از سخنان همچون برخی حرکات دیگر اعضا و جوارح میباشد که سود و زیانی دربر ندارند.

حقیقت این است که سخنانی که بر زبان جاری می شود، هرگز دو طرف آن مساوی نیستند. هر سخنی که بر زبان جاری میشود، اگر مورد رضایت الله باشد، جنبه ی مثبت آن برتری یافته و خیر است، در غیر این صورت جنبه منفی آن غالب می شود و حد وسطی وجود ندارد. اما حرکات و سکنات سایر اعضا اینگونه نیست. لذا زبان و حفظ و کنترل آن از نقش ویژه ای در سعادت هر شخص دارد.

د هـاګ د جنګـي جرمونـو نړیوالـې محکمـې مـشرې «فاتـو بېنسـودا» تېـره اوونـۍ وویـل، چـې دغـه محکمـه د اجـازې پـه لټـه کـې ده، څـو پـه افغانسـتان کـې د جنګـي جرمونـو تورونـه وپلټـي. د هغـې پـه وینـا، کافي شـواهد شـته دي، چـې د افغانسـتان پـه جګـړه کـې جنګـي جرمونـه شـوي او دوی لـه لومړنیـو څېړنـو وروسـته دې پایلـې تـه رسـېدلي، چـې پـه افغانسـتان کـې د څېړنـو پیلولـو لپـاره ټـول لازم حقوقـي معیارونـه او شرایـط پـوره شـوي دي. کـه چېـرې افغـان حکومـت دغـې محکمـې تـه اجـازه ورکـړي؛ نـو دا محکمـه بـه لـه ۲۰۰۳ کال وروسـته د حکومـت د وسـله‌والو مخالفینـو، افغـان امنیتـي ځواکونـو او امریکایـي سرتېـرو او سي آی اې له‌خـوا شـوي جنګـي جرمونـه وڅېـړي. افغانسـتان پـه ۲۰۰۳ کال کـې د دغـې محکمـې غړیتـوب ترلاسـه کـړی دی.

دا لومـړی ځـل نـه دی، چـې د جنګـي جرمونـو نړیوالـه محکمـه دا ډول څرګندونـې کـوي. تېـر کال هـم دغـې محکمـې پـه یـوه راپـور کـې ویـلي وو، چـې د ۲۰۰۳ او ۲۰۱۴ کلونـو ترمنـځ د امریکایـي سرتېـرو او سي آی اې له‌خـوا پـه افغانسـتان کـې د بندیانـو د شـکنجو پرمهـال جنګـي جرمونـه شـوي دي. کـه څـه هـم د امریکـا د متحـده ایالاتـو مشرانـو جرګـې هـم پـه ګوانتنامـو کـې د بندیانـو د شـکنجه کولـو پـه تـړاو خپـل راپـور پـه ۲۰۱۴ کال کـې خپـور کـړ؛ خـو دا بـه لومـړی ځـل وي، چـې یـوه نړیوالـه محکمـه بـه پـه افغانسـتان کـې د کورنیـو او بهرنیـو امنیتـي ځواکونـو پـر جنګـي جرمونـو څېړنـه کـوي.

دا چـې د هـاګ نړیوالـې محکمـې شـالید څـه دی، پـه افغانسـتان کـې د جنګـي جرمونـو احتمالي ډګرونـه کـوم دي او د فاتـو بېنسـودا د خـبرو موخـه څـه ده؟ پـه دغـه تحلیـل کـې هڅـه کـوو، همدغـو او دې تـه ورتـه پوښـتنو تـه ځـواب ووایـو.

د هاګ نړیواله محکمه

د جنګـي جرمونـو نړیوالـه محکمـه (ICC) د هالنـډ پـه هـاګ کـې، د ۲۰۰۲ کال پـه جـولای میاشـت کـې جـوړه شـوه. د دغـې محکمـې اسـاسي دنـده دا ده، چـې د دغـې ادارې د تاسـیس لـه نېټـې راوروسـته پـه غـړو هېوادونـو کـې جنګـي جرمونـه، ټولوژنـې، د بـشر ضـد جرمونـه او نـورې ورتـه قضیـې وپلټـي. نومـوړې اداره یـوازې د هغـو حقیقـي افـرادو د جرمونـو قضیـې څېـړي، چـې عمـر یـې تـر ۱۸ کلونـو پورتـه وي او د تورنـو کسـانو رسـمي پوسـت او مرتبـه هـم د دغـې محکمـې پـه صلاحیتونـو څـه اغېـز نـه لـري.

د هـاک نړیوالـه محکمـه کـې د افغانسـتان پـه شـمول ۱۲۲ هېوادونـه غـړي دي. د نـړۍ لـه مهمـو هېوادونـو څخـه چـین، روسـیې او امریکـا چـې د ملګـرو ملتونـو د امنیـت شـورا دایمـي غـړي دي، کـه څـه هـم پـه ۱۹۹۸ کال کـې، پـه روم کـې د دغـې محکمـې اساسـنامه لاسـلیک کـړې؛ خـو لا یـې هـم د دغـې محکمـې غړیتـوب نـه دی اخېسـتی.

دغـې محکمـې تراوسـه ۱۰ څېړنـې کـړې دي؛ پـر ۹ نـورو څېړنـو کار کـوي او ۳۹ تنـه یـې پـر جنګـي جرمونـو تـورن کـړي، چـې پـه دې ډلـه کـې د سـوډان ولسـمشر عمـر البشـیر، د ایوریـې ولسـمشر لارنـټ ګوباګـو، د لیبیـا معمـر القـذافي او د کینیـا ولسـمشر اوهـرو کینیاټـا او نـور دي.

د جنګي جرمونو احتمالي پېښې

لـه ۲۰۰۱ کال راهیسـې پـه افغانسـتان کـې ډېـرې داسـې پېښـې شـوې، چـې ښـایي د هـاګ محکمـه یـې د جنګـي جرمونـو پـه توګـه وڅېـړي. د بېلګـې پـه توګـه:

لومـړی؛ د امریکایـي سرتېـرو له‌خـوا جنګـي جرمونـه:

امریـکا د افغانسـتان پـه روانـه جګـړه کـې پـه مسـتقیمه توګـه دخیلـه ده او د خپـل نظامـي، اقتصـادي او دیپلوماتیـک ځـواک پرمـټ یـې دغـه جګـړه تراوسـه روانـه ساتلې ده. لـه همـدې

ځایه د روانې جګړې په هر اړخ کې د جنګي جرمونو احتمال شته دی؛ خو موږ دلته هغو پېښو ته اشاره کړې، چې دغه احتمال پکې تر نورو زیات دی. لکه د بګرام زندان، بمباری او په تېره بیا د بې‌پولې ډاکترانو پر روغتون خونړۍ برید او یو شمېر نورې پېښې.

دویم؛ د افغان ملېشو له‌خوا شوي جنګي جرمونه:

کله چې افغان طالبان کابل پرېښودو ته اړ شول، له همغه مهال راهیسې د نارسمي افغان ملېشو او امنیتي ځواکونو له‌خوا داسې کړنې شوې دي، چې له مخې یې برېښي چې ګویا روانه جګړه یوازې د یوه توکم پرضد روانه ده. د قلعۀ جنګي له خونړۍ پېښې رانیولې په شمال کې د کندز تر وروستي سقوط پورې ګڼ شمېر پېښې په دغو کې راتللې شي.

درېیم؛ د وسله‌والو مخالفینو له‌خوا شوي جنګي جرمونه:

له امریکا او افغان امنیتي ځواکونو سره په روانه جګړه کې وسله‌وال مخالفین په تېره بیا افغان طالبان په خونړۍ جګړه بوخت دي. افغان طالبانو په ښاري او کلیوالو سیمو کې داسې چاودنې کړې، چې تر ډېره بې‌ګناه ملکیان پکې وژل شوي دي. د نړیوالو راپورونو له مخې، د ۲۰۰۷ او ۲۰۱۷ کلونو ترمنځ له ۱۷۰۰۰ څخه زیات ملکیان د طالبانو د چاودنو او بریدونو له کبله وژل شوي دي. خو دلته یوه باریکي دا ده، چې طالبانو د هر هغه برید او چاودنې مسؤولیت نه دی منلی، چې د ملکیانو تلفات پکې زیات پېښ شوي دي.

د څېړنې پیلولو تر شا سیاسي موخې؟

که څه هم د هاګ محکمې په خپله وروستۍ اعلامیه کې نه دي ښودلي، چې د دوی څېړنه به د چا پرضد وي؛ خو بیا هم داسې تمه کېږي، چې د هاګ محکمه به له افغان حکومته نیولې تر بهرنیو ځواکونو او وسله‌والو مخالفینو پورې ټول افراد په خپله څېړنه کې راونغاړي.

دغه بحث داسې مهال سر راپورته کړی، چې افغان حکومت په هېواد کې دننه د یو شمېر پخوانیو او اوسنیو حکومتي چارواکو او هغو کسانو له‌خوا تر فشا لاندې دی، چې د طالبانو د رژیم له ړنګېدو وروسته یې په امنیتي برخه کې تر ټولو زیات رول لرلی. په بل اړخ کې امریکا هم، په نړیواله کچه د ۱۹۹۰-۲۰۰۸ پړاو په پرتله اوسمهال کم ځواک لري.

ښایي د هېواد دننه عواملو له کبله افغان حکومت د هاګ محکمې له‌خوا د دا ډول څېړنو له پیلېدلو څخه ګټه پورته کړي؛ خو د دا ډول ګټې پورته کولو احتمال د یو شمېر عواملو له کبله کم برېښي.

لومړی؛ امریکا لاهم د دغې محکمې غړې نه ده. که څه هم افغانستان د دغې محکمې غړی دی او په دغه هېواد کې د امریکایي ځواکونو له‌خوا د شوو جرمونو څېړنه د دغې محکمې په صلاحیتونو کې شامله‌ېږي.

دویم؛ امریکا لا له وړاندې د هاګ محکمې له‌خوا د دا ډول څېړنو پیلول د افغانستان له امنیت او ثبات سره په ټکر کې ګڼلي دي.

درېیم؛ دا ډول څېړنو ته اجازه به د افغان حکومت په اند، ښایي تر څه حده د افغان امنیتي ځواکونو د مورال ټیټولو په معنا هم وي. له همدې کبله ښایي افغان حکومت د دا ډول څېړنو پیلولو ته اجازه ورنه‌کړي؛ خو د اجازې غوښتنې ردول یې هم ناممکن برېښي؛ ځکه له یوې خوا افغانستان د دغې محکمې غړی دی او له بلې خوا افغان ولسمشر اشرف غني هم په سپټمبر میاشت کې په امریکا کې د نوموړې محکمې له مشرې سره وکتل.

د هوسا ژوند کلیاني

انیسه غزنوی

د هوسا او ستړي خلکو په منځ کې بنیادي فرق دادی، چې هوسا او نیکمرغه خلک هغه کار کوي کوم چې ناکام او ستړي خلک نه کوي.

که غواړی چې خپل ژوندون د ستومانیو څخه و ژغوری او هوسا او کامیاب ژوند وکړی لا ندینې ټکو ته عملي بڼه ورکړئ.

!: هره ورځ له ۱۰ نه تر ۳۰ دقیقیو قدم ووهئ او ګرځئ او د قدم وهلو په بهیر کې پر شونډو مسکا خوره کړئ.

۲: لږ ترلږه هره ورځ ۱۰ دقیقی یوازی چُپ کښینئ، هیڅ مه کوئ.

۳: د شپې په وخت ویده کیږئ او د ویده کیدلو په وخت کې په مسایلو سوچ مه کوی،ځکه په دی سره خوب تښتي او سهار هم په وخت پاڅیږئ.

۴: نن ورځ چې کوم کار کولای شئ، هغه صبا ورځې ته مه پریږدئ.

۵: لږ لږ کار کوی، دلوی کار کولو لپاره مؤثره طریقه داده چې لږ لږ وکړل شي.

٦: سږ کال د پروسږکال څخه ډیره مطالعه، د باغونو سیر او چکر او د ملګرو سره ملاقات وکړئ.

۷: خپل بیکاره وخت ۷۰ کالو څخه پورته او تر ٦ کالو څخه ښکته د عمرونو خاوندانو سره په خبرو اترو کې تیر کړئ.

۸: د خوړلو لپاره سبزیجات ډیر استعمالوئ.

۹: هر وخت مثبت سوچ کوئ، له منفي سوچونو څخه ځان وژغورئ ځکه منفی، تخریبی سوچ او احساسات د ډیرو جسماني او نفسیاتي مرضونو سبب کیدلای شي.

۱۰: خپل ژوند د بل چا د ژوند سره مه پرتله کوی، ځکه تاسو د بل چا د هدف او ژوند څخه هیڅ علم نه لرئ.

۱۱: په کومه موضوع باندې روزانه یو څه لیکل وکړئ.

۱۲: له ډیر جدیت او غصې څخه ځان وژغورئ او هغه څه پریږدئ چې تاسو ته ګټه او خوشحالي نه درکوي.

۱۳: له داسې خلکو سره روابط جوړ کړی کوم چې تاسو ته ډیر خوښ وي.

۱۴: له شپږ شیانو سره ژوند وکړی: ۱. ایمان ۲. انرژي ۳. اشتیاق ۴. له نورو سره خواخوږي ۵. فامیل، کورنی ٦. ملګري

۱۵: قرآن کریم، آحادیث نبوی صلی الله علیه وسلم، دسیرت کتابونه او همدا شان د لویو او غوره خلکو د ژوند د سوانحو کتابونو مطالعه ستاسو په ژوند کې ډیر مثبت بدلون راولي.

تفاوت غزوات پیامبر با جنگ‌های امروزی

(۲/۱)

نگارنده: امیرحمزه امینی

چکیده

با بعثت نبی مکرم اسلام و انتشار نور امید در عالم و رسوایی اهل باطل و به صدارت رسیدن حق، باری دیگر شیاطین انسی و جنی بیکار ننشستند و با مکر و حیله و نیرنگ، خواستار برچیده شدن سفره رحمت الله تعالی شدند. این بار آنان شخص مبارک رحمة للعلمین، صلی‌الله‌علیه‌وسلم، را نشانه گرفتند و سعی بر خدشه‌دار نمودن وجه قیادت ایشان در عالم را کردند. چانچه امروزه نیز، دنیای غرب با شبهه پراکنی و اغتشاش اذهان عمومی، سعی بر منفی جلوه‌دادن پیامبر رحمت برای انسان‌ها دارد. این مقاله با نگاهی به سیره پیامبر اکرم، صلی‌الله‌علیه‌وسلم، در شأن و جایگاه فرماندهی، و معنا و مفهوم و هدف جنگ در مذاهب و جنبش‌های غیر اسلامی، کوشیده است چند گام در شناخت روش آن‌حضرت صلی‌الله‌علیه‌وسلم در ابعاد مختلف قیادت و فرماندهی عالم و نحوه نشر دین مبین اسلام در خارج از شبه جزیره عربستان و تفاوت‌های آن را با جنگ‌های حاضر، بررسی و تبیین کند. توجه به خدای متعال، رعایت حقوق انسانی، شجاعت، گذشت، مهرورزی، تکریم مجاهدان و خانواده شهیدان و مانند آن، در سیره نظامی پیامبر اعظم، صلی‌الله‌علیه‌وسلم، و مکر و نیرنگ، وحشی‌گری و گرگ‌صفتی، بردگی و برده سالاری، ظلم و ستم، و... حاصل نبرد جنگ‌های حاضر را تشکیل می‌دهد.

مقدمه

با طولانی شدن عهد آخرین رسول از جانب الله، رفته‌رفته بشریت از صراط مستقیم به کج‌راه‌های هلاکت و نابودی و از روشنایی دین به تاریکی‌های جهالت و گمراهی و از خلق‌وخوی انسانی به خصلت حیوانی کشیده شدند.

باری! باورهای نابه‌جای انسان‌ها و حرص و طمع بی‌پایان‌شان دستاوردهایی را برای آنان به دنبال داشت که به جرأت می‌توان گفت که تاریک‌ترین صفحات تاریخ بشریت بوده‌اند. از دزدی و چپاول و غارت و بردگی و کشتار و... گرفته تا بازداشتن خلق الله از بندگی‌اش و معطوف داشتن‌شان به بندگی و طاعت بندگان ظالم و مستبد که جنایتی بالاتر از آن نیست.

این‌جا بود که خلا وجود منجی که ظلمت‌ها را بزداید و حقوق از دست رفته را باز ستاند و طاغوت و طاغوتیان را سرجایشان بنشاند و رحمت و رفاه و آسایش را به بشریت عرضه کند، احساس می‌شد. تا این‌که ثمره دعای ابراهیم خلیل، علیه‌السلام، به حقیقت پیوست و رحمت موعود از جانب الله بر بشریت عرضه شد.

باری! محمد امین، جوانمرد قریش! با سرشت انسانی و روح و روان خدایی، حامل رحمت و رسالت الله بر بندگان، از جانب الله بسوی رشد و هدایت و نجات و رهایی انسان‌ها فرستاده شد. و این‌جا بود که تاریکی‌ها کنار رفت و روشنایی تابیدن نمود و صبحی دیگر بر عالم کائنات طلوع کرد و دیگر، تاریخ از ثبت وقایع زمان هراسی نداشت.

اما امروزه گذشته تلخ دوباره زنده شده و جهالت پیشین بر انسان‌ها طاری گردیده و عدل و عدالت و رحم و مروت و خیر و اخوت، جای خود را به ظلم و ستم و استبداد و خودکامگی افرادی نالایق و نابه‌کار داده است.

واقعا جای بسی تعجب است که دنیای غرب و غلامان دربارش تمام هم و غم‌شان را صرف خرده‌گیری به اسلامی کرده‌اند که خالق هستی او را پاک آفریده و اکسیر نجات بشریتش قرار داده و عزتش را با سرور کائنات به پای تکمیل رسانیده است.

چرا آنان جنایات جنگ‌های صلیبی را نمی بینند، جنگ‌های جهانی اول و دوم را به خاطر نمی آورند؟ آیا هلوکاست چندان اهمیتی ندارد؟ فاجعه هیروشیما و ناکازاکی ژاپن در دنیای آنان رخ نداده است؟ خاطرات جنگ‌های هیتلر و چنگیز و چرچیل جذابیتی برای‌شان در پی نداشته است؟ و... و... و...

اگر حافظه‌شان آنان را در باب این مسایل یاری نمی کند چرا در مورد قتل‌عام فلسطینیان که همه روزه تازگی به خود می‌گیرد واکنشی نشان نمی‌دهند؟

و اما، اگر از وحشی‌گری در عراق و افغانستان و هند و چچن و مصر و لیبی بگذریم، درد سوریه و میانمار را به که بگوییم؟

اکثر قریب به اتفاق غربی‌ها نه دیروز و نه امروز، قدر ارزش‌های الهی را نفهمیدند. آنان کشورها را اشغال نموده و دست‌های آلوده به خون هزاران بی‌گناه خود را بر ثروت‌های طبیعی ملت‌ها گذاشتند و انسان‌ها را به بردگی گرفته و زیر پرچم استعمار خود آوردند و در این راستا خون‌ها ریختند و حق‌ها پایمال کردند و جنگ‌ها به راه انداختند که نبردهای خونین بالکان، و جنگ‌های جهانی اول و دوم در گذشته دور (گولن، محمد فتح الله (۱۳۹۱): ۲/ ۱۹۲-۱۹۳) و اشغال افغانستان توسط روس و انگلیس و امروز ناتو، اشغال عراق، کشت و کشتار ملت مظلوم و بی‌دفاع سوریه، مصر، لیبی و... دست‌آوردهای آنها، از این قبیل‌اند.

به راستی! این مدعیان حقوق بشر، حامل رسالت رهایی انسان‌ها در زعم باطل‌شان را چه می‌توان گفت؟ جهالت آنان را چه می‌توان نامید؟ چه لقبی زیبنده‌شان است؟ آیا این جهالت در عین تجاهل نیست؟

حال آن‌که درست ۱۴ قرن پیش، با دستان پرنور و تاریک‌زدای رسول خدا، ظلم و استبداد برچیده شد و با کمترین خسارت، اعم از مالی و جانی، آزادی و آزادگی بر انسانیت تقدیم گردید. (گولن، محمد فتح الله (۱۳۹۱)؛ ۲/ ۱۹۲-۱۹۳)

۱. معناشناسی جهاد

۱-۱. واژه و معنای لغوی

واژه «جهاد» از ریشه «ج- ه- د» به معنی کوشش و مبارزه و فعالیت است. جهاد، جنگ مشروع در راه خدا و عنوان یکی از ابواب فقه اسلامی می‌باشد. جهاد واژه‌ای عربی است از ریشه "جهد" به معنای مَشقت، تلاش، مبالغه در کار، به نهایت چیزی رسیدن و توانایی. (خلیل بن احمد (۱٤۰٦هـ . ۱۹۸٦م)؛۱/ ٤۱۱-٤۱۲ و نیز الجوهري، إسماعيل بن حماد (۱٤۰٤ هـ . ۱۹۸٤م)؛ ٥/ ۱۹۰۲)

۱-۲. معنای اصطلاحی

مهم‌ترین مفهوم اصطلاحی این واژه در متون دینی، همانند کاربرد عام آن، گونه‌ای خاص از تلاش است؛ یعنی مبارزه کردن در راه خدا با جان و مال و دارایی‌های دیگر خود، در نبرد با کافران و باغیان، با هدف گسترش و اعتلای اسلام و برپا داشتن شعائر و یا دفاع از آن. (عثمانی، مفتی محمدتقی (۱٤۲٤هـ)؛ ۱/ ۱۰)

جهاد برعکس آن‌چه که امروزه توسط سیاست‌مداران مطرح می‌شود، تنها به معنی جنگ و خون‌ریزی نیست. بلکه در اصل، به معنی کوشش و مبارزه می‌تواند در عرصه‌های گوناگون باشد. جهاد، مصادیق دیگری چون جهاد اصغر، جهاد مالی و جهاد زبانی دارد. برخی از عبادات نیز هم‌سنگ جهاد دانسته شده‌اند. متصدی امر جهاد، حکومت دینی است. بزرگ‌ترین جهاد "جهاد با نفس" است که با نام "جهاد اکبر" شناخته می‌شود و تلاش در راه دفاع از دین اسلام یا گسترش قلمرو اسلام، جهاد کوچک (جهاد اصغر) نام دارد.

جهاد یکی از فروع دین و از واجبات اسلامی است. کلمهٔ جهاد حدود ۱۰۸ بار در قرآن آمده است. (هیکل، محمد خیر (۱۹۹۶)؛ ۱/ ۴۱)

۲. حقیقت جهاد نبوی و جنگ‌های دیگر

با نگاهی دقیق و عمیق در عمق معنای جهاد می‌توانیم اهداف جزئی زیادی را برای آن در نظر بگیریم. چنانچه علمای ربانی چنین کرده‌اند و در این‌جا اشاراتی به آنها خواهد شد.

دنیای غرب در قرن گذشته با فتنه‌انگیزی و اخلال‌گری، شبهاتی پیرامون احکام جهاد در بین مردم منتشر کرده‌اند و این‌طور وانمود نموده‌اند که جهاد راهی است برای پذیرفتن اسلام و مسلمانان، نه با دلیل و برهان که با زور شمشیر توانستند دین خود را گسترش دهند. جنگ و درگیری و توسل به زور و ارعاب و ... تنها راه دعوت به سوی اسلام بود و برای همین منظور، مسلمانان به سرزمین‌های غیراسلامی یورش بردند تا آنان را وادار به قبول دین اسلام نمایند.

باری! این پندار نابخردانه و مغرضانه، جز جهالت و یا تجاهل از مسائل جهاد مشروع و قرابتی که بین جهاد و دعوت اسلامی است، نمی‌تواند باشد.

در حقیقت، جهاد برای اجبار مردم به پذیرفتن اسلام مشروع نشده است. بلکه برای اجرای فرمان‌های الهی و در هم کوبیده شدن عظمت و ابهت پوشالی کفار که همواره بزرگترین سبب برای شیوع ظلم و فتنه و فساد و بارزترین مانع پذیرفته‌شدن حق و گوش فرا دادن به دعوت اسلامی بوده، مشروع گردیده است. و اگر جهاد بر مبنای اجبار نمودن به قبول دین می بود، پس چرا جزیه برای خاتمه دادن به جنگ جواز پیدا نمود؟

تاریخ خود مدعای ماست؛ چنانچه در هیچ یک از جنگ‌های جهادی اسلام، ملاحظه نشده که پس از فتح مسلمانان سرزمینی را، کسی از اهل آن را وادار به قبول دین کرده باشند. و اما تسلیم کفار به احکام الهی و گردن نهادن به حقانیت اسلام نه با اجبار و اکراه که با دلیل و برهان قاطع و سیمای زیبای اسلام و اخلاق نیکو و کارهای مجذوب و... بوده است. چنانکه آنان پس از درک جایگاه دین و عظمت و شوکت رسالت نبوی و ملکوتی بودن آن، با اختیار کامل و میل خود به اسلام گرویده‌اند.

باری! مشروعیت جهاد، برای اعتلای کلمةالله بر روی زمین الله بود و تا اینکه عزت و شوکت و سربلندی تنها برای اسلام باشد و متکبرینی که برای تحقق آرمان‌های خود، بندگان الله را به بردگی می‌گرفتند و ملزم به اجرای قوانینی سرچشمه گرفته از رأی و نظر شخصی‌شان بود، می‌کردند و از این‌که فرمان الله بر زمینش جاری شود ابا می‌ورزیدند و اکراه داشتند و با قدرت حکم‌شان، هرگونه ظلم و ستم و فساد را روا می داشتند، از صحنه گیتی زدوده شوند.

اما متأسفانه، برخی از مسلمان‌نماها که خود را منسوب به اسلام می‌دانند و غرب‌گرایانی که شیفته افکار و اندیشه‌های غرب شده‌اند، بدون این‌که حقیقت و کنه معنای جهاد را بفهمند و این‌که کفار هرگز به حکم جهاد راضی نمی‌شوند، در برابر دنیای غرب سر به گریبان برده و بی‌شرمانه عذرخواهی می‌کنند و بدین منظور روایات جهادی را نیز تأویلات وقیحانه‌ای می‌نمایند؛ چنانکه می‌گویند: مشروعیت جهاد، تنها جهت دفاع از مملکت اسلامی در برابر هجوم دشمن است و فرمان جهاد با ملت کفر هیچ‌گونه جوازی ندارد.

باری! پندار کورکورانه آنان نه در کتاب و نه در سنت و نه در تاریخ، هیچ‌گونه جوازی ندارد و فقه اسلامی نیز هرگز بر این امر تسلیم نشده است. (عثمانی، مفتی محمدتقی (۱۴۲۴هـ)؛ ۳/ ۴-۵)

۲-۱. اصول پایه جنگ در اسلام

اسلام همواره سعی بر به حداقل رساندن میزان تلفات و خسارات ناشی از جنگ نموده است؛ فسخ‌نمودن جنگ با قبول اسلام و یا تن دادن به جزیه و چهار اصل ذیل از جملهٔ اسباب کاهش ضرر و زیان‌های جنگ می‌باشد.

۱ـ کرامت و شرافت انسانی را جریحه‌دار نساختن؛

۲ـ بر کودکان و زنان تعرض نکردن؛

۳ـ خرده نگرفتن بر کسانی که در معابد وقف طاعت و عبادت‌اند؛

۴ـ نجنگیدن با کسانی که در جنگ علیه سپاه شرکت نمی‌کنند.

پس جهاد برای نشر حق و دین اسلام مشروعیت پیدا نکرده است، بلکه مانعان و مغرضان حق عامل جنگند. (گولن، محمد فتح الله (۱۳۹۱)؛ ۲/ ۱۸۶)

۲-۲. قیادت منحصر به فرد رسول خدا

تجربه نشان داده که رویدادهای روزگار، اَبَستن رهبران سُتُرگ و فرماندهان نام‌آوری بوده که پا به عرصه گیتی نهاده و قیادت آن را بر عهده داشته‌اند. در این میان برخی فرصت قیادت را در ابتدای جوانی به دست آورده و برای برخی دیگر این مسئولیت به تعویق افتاده است.

اما پیشوایی و رهبری منجی عالم بشریت، حضرت ختمی مرتبت، محمد مصطفی، صلی‌الله‌علیه‌وسلم، کاملا با رهبری دیگر سردمداران و رهبران جهان متفاوت بوده و غیرقابل مقایسه است.

آن‌حضرت، صلی‌الله‌علیه‌وسلم، از نظر فطری دارای صفات وهبی در زمینه قیادت بوده‌اند و خداوند متعال ایشان را شایستگی و لیاقت پیشوایی مسلمین را داده بود که رویدادهای زمان هیچ نقشی در شکوفایی خلاقیت‌های فرماندهی وی نداشته است. به طور مثال هنگامی که واقعه "حرب فجار" رخ داد- جنگی که یک سوی آن قریش، همان قبیله‌ای که رسول خدا به آن منتسب است، قرار گرفته بود و در طرف دیگر آن یکی از قبایل عرب قرار داشت- چرا این خلاقیت‌های فرماندهی در آنجا هویدا نگردید؟ حال آن‌که پیامبر خدا در عنفوان جوانی بود و فقط نقش یک سرباز عادی را ایفا نمود، با وجودی که در میان قریش، در چنین سنی فرماندهان زیادی وجود داشت. چرا این ویژگی‌ها در زمانی که اصحاب وی بدترین شکنجه‌ها را می‌چشیدند، نمودار نگردید؟

باری! قیادت پیامبر خدا در سن ۵۳ سالگی آغاز گردید؛ آن هم به بهترین شکل ممکن، چرا که این یک رسالت معیّن و ویژه از جانب الله بود. به تعبیر دیگر خداوند متعال وی را از مبارزه‌های جنگی و بازی‌های سیاسی و رقابت‌های تنگاتنگ و... که بقیه فرماندهان دنیا به آن نیاز دارند، بی‌نیاز ساخته بود.

همان‌طورکه اشاره گردید در دنیا معمولا استعدادهای یک فرمانده از کوچکی در وجود وی مشخص می‌شود و سپس با تجربه‌هایی که در جوانی به آن دست می‌یابد رشد و نمو می‌کند و بعد در هر میدانی می‌خواهد صلاحیت‌های خود را با تلاش متناوب و رقابت‌های تنگاتنگ به رخ دیگران بکشد تا از این راه به مقام دل‌خواهش دست یابد.

آیا شما فکر می‌کنید که ناپلئون ۲۷ساله که ایتالیا را به زانو نشاند بدون سابقه جنگی و بدون تجربه بوده است؟ خیر! او ابتدا وارد دانشکده جنگی شد و سپس به عنوان افسر توپخانه از آن‌جا فارغ‌التحصیل گردید، سپس از تجربه‌های نظامی معاصر استفاده نموده و آنها را عملی اجرا می‌کرد و پس از آن در سن ۲۵سالگی به سمَت سرلشکری درآمد و در سال۱۷۹۵م توانست اغتشاش‌گران را در پاریس سرکوب کند و پس از آن توانست قیادت ارتش فرانسه در ایتالیا را بر عهده گیرد. به همین ترتیب اگر به دیگر فرماندهان بنگریم به طور مثال "هیتلر"، "چرچیل"، "تیتو" و "استالین" و حتی "چنگیزخان" همه به این شکل بوده‌اند؛ چنگیزخان از۱۳ سالگی تا ۳۵سالگی (یعنی به مدت چهل سال از عمرش) را در جنگ‌ها سپری کرده و کشورگشایی او ناگهانی نبوده است. (گولن، محمد فتح الله (۱۳۹۱)؛ ۲/ ۲۶۷-۲۶۸)

ادامه دارد

د نصیحت کولو یوولس اړین مهارتونه

تلخیص اوراټولونه: محمد خالد ملکزی

په دې لیکنه کې غواړو د نصیحت په اړه څو ګټوری مشورې له تاسو قدرمنو لوستونکو سره شریکې کړو او دا ځکه چې: که چیری مونږ پخپل ورځینې ژوند کې نورو ته د نصیحت کولو اصول او ضوابط په پام کې ونه نیسو؛ نو زمونږ نصائح(پندونه) به بې فایدې او بې اثره ثابت شي او ددې پر ځای چې خلک مو اسلام ته هڅولي وي، بلکه خدای مه کړه هغوي به مو په ناپوهۍ سره له اسلام څخه نور هم زړه توري کړي وي؛ نو د همدې مقصد لپاره مو وغوښتل چې له یو لړ مهمو کتابونو او باوري عربي سرچینو څخه پښتو ژبې ته د نصیحت کولو څو مهم آداب راوژباړو او له تاسو قدرمنو لوستونکو سره بې شریک کړو، هیله ده چې ستاسې لپاره ګټور تمام شي؛ خو په سر کې به خبره د نصیحت کولو د اهمیت څخه راپیل کړو.

د نصیحت کولو ارزښت:

نورو ته نصیحت کول د پیغمبرانو تګلاره او خورا غوره انساني عمل دی او لکه څرنګه چې نوح (علیه السلام) به کلونه کلونه خپل قوم ته نصیحت کاوه او هغوي به بې له بدبختیو، فساد او کساد څخه ژغورل او ورته به بې ویل: [وَأَنصَحُ لَكُمْ]سورة الأعراف آیت٦٢. ترجمه: زه تاسې ته نصیحت کوم؛ نو مونږ ته هم ښایي چې دا هېر شوې عادت او د انبیاؤ سنت یو ځل بیا راژوندی کړو. په ورځینې ژوند کې د نصیحت کولو د ارزښت په اړه که تاسې یوه شېبه له ماسره فکر وکړئ؛ نو تاسې ته به هم جوته شي چې کله کله زمونږ نصیحت کولی شي یو ځوان او یا یوه پیغله له خورا بدمرغیو او ناوړو پېښو څخه وژغوري. د بېلګې په ډول: که چېرې یو ځوان تاسې ته راشي او در ته ووایي چې: زه د فلانۍ انجلۍ سره واده کول غواړم ، آیا پدې کار کې به زما لپاره خیر وي او که شر؟ که چیری ته پوهیږي چې دا انجلۍ د دې هلک لپاره مناسبه نه ده؛ او یا هم انجلۍ متدینه او د یوې نېکې کورنۍ پورې تړاو ولري؛ خو هلک بدکاره او فاسق انسان وي؛ نو پدې صورت کې دوي ته ستا نېکه مشوره او نصیحت کول په حقیقت کې د هغوي ژوند له غمیزو (بدو پېښو) څخه د ژغورلو په معنا سره ده او پداسې حساسو مسئلو کې چوپ پاتې کیدل ښکاره خبره ده چې لوی آفتونه رامنځ ته کوي.

په همدې ډول مونږ ته هم ښایي چې په خورا حکمت سره د خپلې ټولنې خلک د خیر لوري ته راوبلو. د نصیحت د ارزښت په اړه باید دومره ووایو چې: په یوه ټولنه کې خبر خواه خلک نورو ته نصیحت کول دومره اړین بولي؛ لکه څومره چې له Oxygen (اکسیجن) د خپل ژوند د بقاء لپاره ارزښتمن بولي. د عوتګر انسان هم خپل ژوند په دعوت کې وینې؛ نو ځکه خو د خپل بشري توان سره سم د خلکو سره خواخوږي ترسره کوي او په خورا لطافت او نرمۍ سره هغوي د خیر لوري ته رابولي.

نورو ته د نصیحت کولو یوولس مهم مهارتونه:

لومړی مهارت: مقابل لوري ته په زړه کې اخلاص ولرئ:

لکه څرنګه چې خالصې شیدې او اصلي عسل د مخلوطو شیدو څخه جلا خوند لري؛ نو همدا ډول په نصیحت کې روغ نیت (اخلاص) هم یو جلا خوند لري؛ او پدې لاره کې پاک نیت هغه اساسي څیز دی چې زمونږ پر وینا کې برکت اچوي او کېدلی شي زمونږ یو څو کلمات کله کله د یو چا ژوند د جهنم له تاوجن او لمبې وهونکي اور څخه وژغوري او کلونه کلونه د هغه په ژوند کې یو مثبت بدلون راولي؛ نو هیڅکله هم نصیحت ته بې ارزښته مه ګورئ.

دویم مهارت: د نصیحت لپاره مناسب ځای او مناسب وخت وټاکئ:

ځینې خلک نورو ته د نصیحت لپاره یو مناسب ځای او مناسب وخت په پام کې نه نیسي چې دا پخپله یو ناسم کاردی، مثلاً: دا وخت باید د خلکو د خوب او ډوډۍ وخت نه وي، یا د محصلینو د امتحان وخت باید نه وي، یا مثلا: تاسې یو تن وینۍ چې یو ناروا کار ترسره کوي؛ نو مخکې له دې چې هغه ته نصیحت وکړئ په دې شخص کې د شر د خصلتونو تر څنګ د خیر صفتونه هم ولټوئ، لدې وروسته تاسې لومړی

د هغه ستاینه وکړئ، بیا ورته نصیحت وکړئ. که چیری تاسې مَنصُوح(نصیحت اورېدونکي شخص) ته وواياست: چې مشره، گرانه او یا هم قدرمنه وروره! زه تاته یو څو خبری کوم او زه پر تا داسې گومان کوم چې ته به حتماً زما په خبرو کې فکر او سوچ کوی؛ ځکه چې ته یو هوښیار انسان یې او د حق خبره زر قبلوی او داسې نور.....؛ نو زمونږ دا خوږې خبر ی به پر اورېدونکي شخص ډېرې مثبتې اغېزې شیندي.

درېیم مهارت: د نصیحت پر مهال له نرمۍ څخه کار واخلئ:

زمونږ یو لړ وروڼه او خوېندی داسې فکر کوي چې له ظالم او گنهکار انسان سره باید هیڅکله هم په نرمۍ سره نصیحت ونشي؛ بلکې په سختۍ باید خبری ورسره وشي او په ځغرده او تنده لهجه پوه کړل شي، پداسې حال کې چې دا پخپله یو ناسم تصور دی. واقعیت دادی چې: مونږ باید حتی د ټولنې بد خلک هم په نرمۍ سره د خیر لوري ته راوبولو. مونږ له دې ډول کسانو څخه چې په دعوت کې نرمي نه پېژني یوه پوښتنه لرو: آیا تاسې د سورة طه دا آیت نه دی لوستلی چې لوی څښتن تعالی خپلو دوو پیغمبرانو(حضرت موسی او هارون (علیهما السلام)) ته کله چې د ظالم او مستبد فرعون لوري ته د ورتللو امر ورته کوي؛ نو داسې ورته فرمايي: [فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ]. ٤٤ آیت

ترجمه: تاسې دواړه هغه(فرعون)ته نرمې خبری وکړئ، (داسې وینا چې خشونت او سختي پکې نه وي) کیدای شي چې پند واخلي او ووېرېږي. دا پورتنی مبارک آیت مونږ ته د همدې ښودنه کوي چې د الله تعالی لوري ته په بلنه کې باید نرمه ژبه او لطافت له یاده ونه ویستل شي؛ او د شدت ــ قساوت او زیړچلن پر ځای باید له صبر او زغم څخه کار واخستل شي. دا به هم د حکمت څخه خالي نه وي چې ناصِح(نصیحت کوونکی) مقابل لوري ته ووایي: گرانه وروره! زه ستا خیر غواړم او تا ته یو څو نصیحتونه هم لرم، خو په پیل کې دا درته وایم چې کیدای شي ددې خبری په اورېدلو سره ستا په زړه کې دا راوگرځي او شیطان دا وسوسه ستا په زړه کې درواچوي چې: زه د نصیحت په بهانه غواړم تا رسوا کړم، تا ورټم او ستا د بې عزتۍ اراده ولرم؛ بلکه دا ټولې ناسمې خبری دي، زه یوازې او یوازې ستا بریالیتوب او سوکاله ژوند غواړم او بس. بل لوري ته هغه څوک چې زمونږ نصیحت اوري د هغه مسؤلیت دادی چې له نصیحت کوونکي څخه لومړی مننه وکړي او دا ور ته ونه وایي چې: ته حق نلری تر څو زما په شخصي امورو کې مداخله وکړی، یا مثلاً: دا خبره دې نه ورته کوي چې: زه ستا نصیحت ته هیڅ اړتیا نلرم(دا خبری د ابلیس او متکبر انسان خبری دی چې باید ځان ورڅخه وژغورو).

څلورم مهارت: نورو ته د خلکو پر وړاندی نصیحت مه کوئ:

ستاسې نصیحت هغه وخت پراورېدونکي شخص خورا مثبتې اغېزې شیندي چې کله هغه ته د امکان تر حده پوری په سِرّي(پټه او تنهایی) سره نصیحت وشي، نه د خلکو پر وړاندی، ځکه پوهان وایي چې:((النَّصِيْحَةُ فِيْ الْمَلأِ فَضِيحَة)). د خلکو پر وړاندی نصیحت خیرخواهي نه ده، بلکې د هغه شخص رسوايي ده.

د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د نصیحت کولو تگلاره او شعار داسی ؤو چې هغه به ویل: ((مَا بَالُ أقوامٍ))؟: یعنې په دې خلکو باندی څه شوي دي چې فلانی او فلانی کار کوي(مستقیماً به یې د چا نوم نه اخسته). لکه اوس چې یو څوک ووایي: دا زمونږ پر افغانانو باندی څه شویدي چې فلانی او فلانی بد کار کوي؟ نو د نیغ په نیغه د نوم اخستلو او د مخاطب شخص د عیب د ذکر کولو پر ځای باید غیر مستقیم خبره وشي؛ نو دا به ډېره بهتره وي. همداراز فُضَيْل بن عَیاض به ویل: مؤمن انسان پر خلکو باندې پرده اچوي او بدمرغه او فاسق انسان خلک رسوا کوي.

پینځم مهارت: د موضوع په اړه لومړی پلټنه او کره معلومات راجمع کول:

که چیری د یوې کورنی، یا قومي مشر او یا په ورځینې ژوند کې استاذ او یا د ټولنې یو بل خیر خواه انسان وغواړي چې نورو ته نصیحت وکړي؛ نو ورته ښایي چې خپله موضوع د یو قرآني آیت او نبوي حدیث په رڼا کې نورو ته شروع کړي او دا موضوع بې باید د واقعیت سره هم مطابقت ولري. همداراز مقابل شخص ته د قناعت ورکولو لپاره باید د منطقي استدلال تر څنگ د یو Research ، پلټنې او علمي تحقیق څخه وروسته ورسره د موضوع په اړه سالم نظر شریک کړي او سمه لارې ته دې راوبولي.

شپږم مهارت: د وخت سره او لنډ مناسب نصیحت ورته وکړئ:

هر کله چې تاسې یو ناسم کار وینی او پدې وخت کې نصیحت کولو ته اړتیا محسوسوی؛ نو جرأت وکړئ او خلک د خیر لوري ته راوبولئ او پدې لړ کې د اوږدو او غزېدلو وینا ؤ څخه چې تکراري کلمات پکې وي ډډه وکړئ. همداراز په خپل رسا غږ او فصیحه ژبه مو وینا پیل کړئ، له تکلفي وینا او سختو کلمو د استعمال څخه ځان وژغورئ، خو په وینا کې مو لږه چوپتیا او فکر هم مه هېروئ. تاسې یې هم تجربه کړئ؛ او بیا به تاسې ته هم جوته شي چې ستاسې وینا پدې صورت کې پر نورو څومره اغېزمنه تمامیږي. زمونږ وینا نه باید دومره لنډه وي چې هیڅ څوک پری پوه نشي او نه هم دومره باید اوږده او غزېدلی وي چې خلک نور ستړي شي.

اووم مهارت: په زړه پوری خبرې خلکو ته وکړئ:

د نصیحت کولو لپاره د مناسبو او درندو کلماتو او د غوره موضوع انتخاب هغه څه دي چې پر اورېدونکي خورا ښه تأثیرات رامنځ ته کوي؛ یعنې ستاسې موضوع باید تکراري او پخوانۍ نه وي؛ بلکه زمونږ وینا باید د خلکو د اړتیاو او پوښتنو سره سم بایدوړاندې شي او دومره باید په زړه پوری وي چې د ټولو خلکو پام د ځان په لوري راواړوي او ستړی کوونکی نه وي؛ لکه: په عربي ژبه کې یو مشهورمتل دی چې وایي: (کلُ جدیدٍ لذیذٌ) یعنې هر نوی شی خوندور وي، تر دې پوری چې یو لړ پوهان خو دا هم وایي چې: ناصِح (نصیحت کوونکي انسان) ته نه ښایي په داسې یو قوم کې علم خپور کړي چې هغوي اصلاً ورسره هیڅ شوق او لیوالتیا ونلري، بلکه په داسې قوم کې دې د علم د خپرولو هڅه وکړي چې هغوي مینه او رغبت ورسره ولري، ځکه ستاسې له علم څخه به همدا مینه وال خلک زیاته ګټه واخلي.

که خلک کړې او ناسمې خبرې کوي؛ نو تاسې د ناسمو او زیانمنو خبرو پر ځای سمې او خوږې خبرې وکړئ؛ لکه: یو ځل یو شخص له حضرت عباس د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) له تره څخه وپوښتل چې: ته مشر یې او که رسول الله (صلی الله علیه وسلم)؟ نو حضرت عباس (رضي الله عنه) چې مسلمان شوی ؤ دې شخص ته ډېر په زړه پورې ځواب ورکوي او ورته وایي چې: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زمانه خورا مشر دی؛ خو زه ترې مخکې پیدا شوی یم(۲). د حضرت أمیر المؤمنین عمر (رضي الله عنه) په اړه ویل کیږي چې یوه شپه د خپل کوره ووته تر څو د مدینې حالت په ښه توګه وڅېړي؛ نو په لاره کې یې ولیدل چې په یو پټ ځای کې خلکو اور بل کړیدی او تر شاوخوا یې ناست دي؛ نو ورنژدې شو او پر دوي یې غږ وکړ: (یَا أَهْلَ الضَّوْءِ) یعنې ای د رڼا خلکو ! او دایې ورته ونه ویل چې: (یا أَهْلَ النار)، یعنې ای د اور خاوندانو؛ ځکه په عربي ژبه کې اهل النار دوزخیانو ته ویل کیږي.

اتم مهارت: د نورو وینا و ته په مینې سره غوږ ونیسئ:

کامیاب ناصح او اغېزمن وینا وال هغه چاته نه ویل کیږي چې یوازې نورو ته ښې وینا وې اوروي، بلکه ښه وینا وال هغه چا ته ویل کیږي چې د نورو خبری تر څو چې بشپړی شوي نه وي په نیم کې نه پری کوي(د روانشاسۍ(اروا پوهنې) استاذان وایي چې: تاسې تقریباً ۱۵ ثانیې مقابل لوري ته صبر وکړئ او بیا د نورو له چوپ کېدلو وروسته خپله خبره ورته پیل کړئ).

نهم مهارت: په نصیحت کې د کیسې، شعري ټوټو او متلونو څخه استفاده وکړئ:

د ښه نصیحت کوونکي شخص د مهمو ځانګړتیاو څخه بله داده چې: نورو ته د نصیحت کولو او یوې موضوع د تقدیم لپاره د مناسب شعر او متل ترڅنګ یوه په زړه پوری او باوري کیسه نورو ته اوروي چې دروغ پکې نه وي؛ او په دې توګه سره د حقائقو په لوري د نورو پام راړوي. کله کله خو یو لنډه شعري ټوټه دومره لوړ مفاهیم لري او په خبرو کې دومره خوند رامنځ ته کوي چې له زیاتو خبرو څخه اغېزمن تمامیږي او مخاطب انسان خورا ښه په موضوع باندی پوهوي.

لسم مهارت: د ستړیا په صورت کې خپلې وینا وې پای ته ورسوئ:

که چېرې تاسې دا احساس کړله چې اورېدونکي نور ستړي شول او د نورو خبرو د اورېدلو تاب نلري؛ نو خپلې وینا وې مو پای ته ورسوئ؛ او پدې صورت کې د اوږدو او غزېدلو خبرو هڅه مه کوئ، په ځانګړي ډول په دې عصر کې چې خلک راز راز بوختیاوی لري او ژوند د پخوا په نسبت ډېر سخت شوېدی؛ نو په دې مصروفه نړۍ کې خلک لنډې وینا وې خوښوي. تاسې خپل وخت ته د ارزښت تر څنګ د نورو وخت ته هم ارزښت ورکړئ. دا سمه نه ده چې ستاسې وینا دومره غزېدلی وي چې خلک نور ستړي شي او بیا هیڅکله هم ددې لیوالتیا او شوق ونلري تر څو ستاسې وینا وې واوري او که چېرې د دعوت په لاره کې دا ډول حکمتونه په پام کې ونه نیول شي؛ نو په دې صورت کې به تاسو خدای مه کړه پخپله خلک ددین له پوهې، د دین سره دعلاقمندۍ او شوق له درلودلو څخه زړه توری کړي وي.

یوولسم مهارت: د تکلفي او سختو الفاظو د کارولو څخه ډډه وکړئ:

د ټاکل شوې موضوع لپاره باید دومره درانده الفاظ ونه کارول شي چې بیا پرې تاسې پخپله هم نه پوهیږئ چې زه څه ویل غواړم او څه هدف لرې. زمونږ هدف هیڅکله هم دا هم نه دی چې ټوله موضوع دې په ډېر ساده ډول وړاندی شي، بلکه د خلکو او اورېدونکو د عقلونو سره سم او د اعتدال او منځلاریتوب په پام کې نیولو سره دې موضوع وړاندی شي، که چیرې ستاسې مخاطب دهقان وي؛ نو باید د دهقان په ژبه ورسره خبری وکړل شي او که د پوهنتون استاذ وي؛ نو بیا دې په جلا ډول وینا وې ورسره ترسره شي. په پای کې به په همدې خبرې سره دا مقاله پای ته ورسوو چې: په دعوت کې مخاطب شناسي(یا مخاطب پېژندنه) خورا مهمه ده چې تاسې چاته نصیحت او دعوت ترسره کوئ او ستاسې د ټولنې خلک مو څه ډول دي، له څه شي سره دوي حساسیت او څنګه کولی شو ددوي زړونو ته لارې اوباسو؟

شیرینی پاداش

داشتم در راهی صحرایی می‌رفتم که راهم را گم کردم... در صحرا به خیمه‌ای کهنه رسیدم... به داخل آن نگریستم و دیدم مردی نابینا که هر دو دستش قطع بود در آن بر زمین نشسته... کسی کنار او نبود... متوجه شدم زیر لب چیزهایی می‌گوید...

به او نزدیک شدم... شنیدم که می‌گوید: «الحمدلله که مرا بر بسیاری از آفریدگان خود برتری داد... الحمدلله که مرا بر بسیاری از آفریدگان خود برتری داد...»

از این حرفش تعجب کردم... نگاهی به حال و روزش انداختم... اکثر حواس خود را از دست داده بود... دو دست نداشت و چشمانش کور بود و نمی‌توانست حتی به کارهای خودش برسد... نگاهی به دور و برش انداختم... نه فرزندانی که خدمتگذاری او را بکنند و نه زنی که همدمش باشد... هیچکس آنجا نبود...

به سویش رفتم... دانست که آنجایم... گفت: کیستی؟

گفت: السلام علیکم... مردی هستم که راه را گم کرده‌ام و به خیمه‌ی تو رسیده‌ام... تو که هستی؟ چرا تنهایی در این مکان زندگی می‌کنی؟ خانواده‌ات کجایند؟ فرزندان و خویشاوندانت کجایند؟ گفت: من مردی بیمارم که مردم ترکم کرده‌اند و اکثر خانواده‌ام مرده‌اند...

گفتم: اما من شنیدم که می‌گفتی «الحمدلله که مرا بر بسیاری از آفریدگان خود برتری داد» به خاطر خدا بگو! با چه چیزی تو را برتری داده؟ تو که نابینا و فقیری و تنهایی و دستانت بریده شده!

گفت: خواهم گفت... اما از تو خواهشی دارم... آیا آن را برآورده خواهی کرد؟

گفتم: پاسخ مرا بگو... خواهشت را هم انجام خواهم داد... گفت: تو می‌بینی که خداوند مرا به انواع بلا آزموده است... اما باز هم شکر و ستایش از آن اوست که من را بر بسیاری دیگر از آفریدگانش برتری داده است...

آیا خداوند به من عقلی نداده که می‌توانم با آن بفهمم و تصمیم بگیرم و فکر کنم؟

گفتم: آری... گفت: چه تعداد از انسان‌ها دیوانه‌اند؟

گفتم: بسیارند... گفت: پس الحمدلله که من را بر آنان که بسیارند برتری داده...

آیا خداوند به من شنوایی نداده؟ که می‌توانم صدای اذان را بشنوم و حرف مردم را بفهمم و بدانم دور و برم چه می‌گذرد؟

گفتم: آری... گفت: انسان‌هایی که نمی‌توانند بشنوند و حرف بزنند چقدرند؟

گفتم: بسیارند... گفت: الحمدلله که مرا بر آنان که بسیار هستند برتری داده است...

آیا خداوند مرا مسلمان قرار نداده که پروردگارم را عبادت می‌کنم و امید اجر صبری که کرده‌ام را نزد او دارم و بر مصیبتم صبر می‌کنم؟؟

گفتم: آری... گفت: انسان‌هایی که بت و صلیب را می‌پرستند و در همین حال بیمار هم هستند چقدرند؟ که هم دنیا و هم آخرت را از دست داده‌اند؟

گفتم: بسیارند... گفت: پس الحمدلله که مرا بر آنان که بسیار هم هستند برتری داده است...

آن پیرمرد همچنان نعمت‌های خداوند را می‌شمارد و من هم از نیروی ایمان و قدرت یقین و خشنودی‌اش به آنچه خداوند به او عطا نموده در شگفت بودم... چقدر بیمارانی هستند که حتی یک چهارم او دچار بیماری نیستند... کسانی که بیماری آنان را زمین‌گیر کرده یا شنوایی و یا بینایی خود را از دست داده‌اند یا یکی از اعضای بدن خود را از دست داده‌اند، اما اگر با این پیرمرد مقایسه نشوند سالم هستند! اما با این وجود چنان بی‌صبری و جزع و فزع می‌کنند که نگو! و بلکه دچار ضعف یقین و کم صبری هستند...

اما صبر او را اگر میان یک امت تقسیم می‌کردند به همه می‌رسید! همینطور در افکار خود غرق بودم که صدای آن پیرمرد مرا به خود آورد: خوب اکنون می‌توانم حاجتم را بگویم؟ می‌توانی آن را برایم انجام دهی؟

گفتم: آری... نیازت چیست؟!

کمی سرش را پایین آورد... سپس سرش را بالا آورد و گفت: از خانواده‌ام کسی باقی نمانده مگر پسری که چهارده سال بیشتر ندارد و اوست که برایم آب و غذا می‌آورد و با کمک او وضو می‌گیرم و همه‌ی کارهایم را انجام می‌دهد... دیروز در جستجوی غذا بیرون رفت و هنوز باز نگشته... نمی‌توانم زنده است که امید بازگشتم داشته باشم یا مرده و باید فراموشش کنم... من هم همانطور که می‌بینی پیری نابینایم و نمی‌توانم در جستجویش برآیم...

درباره‌ی نوجوان و نشانه‌هایش پرسیدم... نشانه‌هایش را گفت... به او وعده‌ی خیر دادم و سپس از نزد او بیرون آمدم... در حالی که نمی‌دانستم کجا و چگونه در جستجویش برآیم... در جستجوی کسی بودم که از او درباره‌ی آن نوجوان بپرسم... ناگهان بر روی کوهی که نزدیک خیمه‌ی پیرمرد بود متوجه گروهی از کلاغ‌ها شدم که بر روی چیزی جمع شده‌اند... با خود گفتم یا بر لاشه‌ای جمع شده‌اند یا غذایی یافته‌اند...

به بالای کوه رفتم و ناگهان دیدم جسد تکه پاره‌ی همان نوجوانی که پیرمرد توصیفش کرده بود آنجا افتاده... گویا گرگی به او حمله کرده و او را خورده بود و سپس باقی مانده‌ی جسد را برای پرندگان گذاشته بود... آنقدر که برای پیرمرد غمگین شدم برای خود نوجوان غصه نخوردم...

ناراحت و اندوهگین از کوه پایین آمدم... هم غمگین بودم و هم حیران... آیا بروم و پیرمرد را رها کنم که تنها با سرنوشت خود روبرو شود یا آنکه برگردم و خبر مرگ فرزندش را به او بدهم؟!

به سوی خیمه‌ی پیرمرد رفتم... صدای سبحان الله و الحمدلله گفتنش را می‌شنیدم... واقعا حیران بودم! چه بگویم؟ چطور حرفم را شروع کنم؟

داستان پیامبر خدا ایوب ـ علیه السلام ـ به یادم آمد... وارد خیمه شدم... پیرمرد را همانطور که بار نخست دیده بودم خسته یافتم... سلام گفتم... بیچاره مشتاق دیدار فرزند بود... گفت: فرزندم کجاست؟!

گفتم: اول سوال مرا پاسخ ده... کدام یک نزد خداوند محبوب‌ترند... تو یا پیامبر ایوب؟ گفت: پیامبر ایوب...

گفتم: پس اجر فرزندت را نزد خداوند بجوی... او را بر روی کوه، مرده یافتم... گرگ‌ها به او هجوم آورده و او را خورده بودند...

ناگهان صدای بلندی از گلوی شیخ بیرون آمد و شروع کرد به تکرار لا اله الا الله... من سعی می‌کردم او را آرام کنم... اما صدای بلند نفس از گلویش بیرون می‌آمد... به او شهادتین را تلقین کردم... تا آنکه جان داد... او را با لحاف که زیر پایش بود پوشاندم... سپس بیرون رفتم تا کسی را بیابم که برای انجام دادن کارهای غسل و کفن و دفنش کمکم کند...

سه مرد را دیدم که سوار بر مرکب خود بودند... گویا مسافر بودند... آنان را صدا زدم... به سویم آمدند...

گفتم: آیا خواهان اجری هستید که خداوند برای شما مهیا نموده؟ اینجا مردی مسلمان مرده و کسی نیست که کارهایش را انجام دهد... آیا کمک می‌کنید تا او را غسل و کفن و دفن کنیم؟

گفتند: آری...

وارد خیمه شدند و خواستند بلندش کنند... همین که چهره‌اش را دیدند گفتند: ابوقلابه است! ابوقلابه است!

گویا ابوقلابه از علمای آنان بود که با گذر زمان و بلاهای پی در پی از مردم کناره گرفته بود و در خیمه‌ای کهنه در صحرا به زندگی ادامه داده بود... کارهایش را انجام دادیم و دفنش نمودیم و خودم همراه آنان به مدینه رفتم...

آن شب ابوقلابه را در خواب دیدم که سر و وضع نیکویی داشت و لباسی سفید پوشیده بود و بدنش سالم بود و در سرزمینی سبز قدم می‌زد...

گفتم: ای اباقلابه... چطور به چنین جایی رسیدی که می‌بینم؟! گفت: پروردگارم مرا وارد بهشت کرد و آنجا به من گفتند:

سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ [رعد: ۲۴].

«درود بر شما برای آنکه صبر نمودید؛ چه پایان خوبی!»

با تصرف اندک از سیر أعلام النبلاء امام ذهبی.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعارما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت در کشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

چینه

فابریکه تولیدی لوازم تشناب

اولین فابریکه تولیدی لوازم
تشناب با پنج سال گرنتی

آدرس: پکتیاکوت، نساجی سابقه کابل
Cheena Sanitary Fitting industry
0789090677

واسکت دریشی

HANEEF TAILOR
H.T.S

خیاطی و رخت فروشی حنیف ستایل

رخت فروشی و دوخت لباس با دیزاین کتلاک پذیرفته میشود

+93783000135 - +93795552296
/Haneef-Tailor
haneef.tailor.style@gmail.com
کلوله پشته بین چهار راهی ترافیک و گل سرخ

104.3 FM

رادیو صدای اصلاح

کابل | مزارشریف | کندز | بغلان | جلال اباد

اصلاح ملي

د تېرو کلونو کلکسیونونه

آدرس: د جمعیت اصلاح مرکزي دفتر - تیمني سابقه - خلورمه کوڅه
شمېره: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۷ ساعت نشرات در شبانه روز
شماره تماس: 0786945943